
مسافر تول کلي ته راغلل زماجانان په بل وطن کې خاوري شونه
کورپه وطن ګورپه دوبۍ
ليکوال:
وکيل حاجي بادشاه خان (ثمرنوال)
۱۳۹۰ هـ ش

# کور په وطن، ګور په دوبۍ

## ناول

لیکوال وکیل حاجي بادشاه خان (شرنوال)

۱۳۹۰ هـ ش

## دکتاب ځانګړینې

دکتاب نوم: کورپه وطن ګورپه دوبۍ

لیکوال: وکیل حاجي بادشاه خان (شرنوال)

کمپوز: محمدرؤف (مخلیص)

چاپ شمیر: ۱۰۰۰

چاپ کال: ۱۳۹۰

چاپ وار: لومړی

چاپ ځای: دصافي علمي خپرندویه ټولنه پېښور

ګرځنده: ۰۳۱۲-۷۱۹۹۸۹۸

بسم الله الرحمن الرحيم

دستراوځواکمن څښتن تعالیٰ په سپېڅلي نامهٔ

ګرانواوعزتمندولوستونکیو!

لـه هرڅـهٔ نـه وړانـدي درتـه ددي ارزښـتناکي اوخـوږې ډالـۍ اومعنوي پـانګي پـه خپراوي چـي دپښتوا وپښتنولی دردونوانعکاس پکـي پـه خـوراادبي او سـلیقوي جـوش اوخـروش سـره نغښتې دی پـه زرګونـه مبارکۍ وړاندي کـوم اودپـښتوادب پـه بډاینـه او غنـاءکي ددې ګام پورتـه کـوَل دلیکـوال هغـه هڅـه بـولم کومـه چـي زمونږدټولني دیـوهٔ دردمن اوکړېدلي افغان دتراژیك ژوند ترجماني کوي زهٔ چي ترکومه حده پوري د لیکوالانوورونوکمُېدي مفاهیم اولیکني ګورم نوکـه ښـتیادرته ووایـم چـي هومره خوندورڅخـه نـشم اخیـستلای لکـه چـي دیـوهٔ دردمـن لیکوال له یوې کلمې څخه یي د زړهٔ لـه پـوره دردسرَه پـه غمونـوکې اخلم ځکه چي زمونږټولنه اوس داسي یوهٔ حدته رسېدلي ده چي خوښي پکـي تقریباً تخیلات اوغمونـه اواندېښنې پکـي دحقیقت او واقعیت پـه لاره روان دي پخوابه که ځوانانوله غمونونفرت او کرکه کوله اویوبل ته

به یي دلنډۍ په توګه داسي ویل چي:

ماسره خپل غمونه ډېردي ..... په لویه لارکي راته مه ژاړه مینه

مګرنن حالات بل ډول دي اوخلك یوبل ته دالنډۍ ډالۍ کوي:

هرکله راشې دیارغمه ..... که مي سل نوروي یوبه تاپرې ځایومه.

داځکه چي دټولني ټول وګړي لکه دیوه پړي اوبدن غړي داسي حیثیت لري که یو غړی په یوهٔ رنځ اوزحمت اخته شي نوټول غړي ورسره ناآرامـه وي دښاغلي الحاج وکیـل بادشاه خـان (شرنوال) یوبـل کتـاب

(انتباهي تهوکي) چي مخکي خپور شوی دی هم مامطالعه کړی ښهٔ دپند او عبرت له لطائفوډك دی او په بین المللي سویه ځکه منل شوی کتاب دی چي دملګرو ملتونو دیوې خیریه موسسې لخوا د چاپ ترپولي رسېدلی دی مګر دا کتاب یې ترهغه هم حیرانوونکی او خوندور دی ځکه چي دردونه پکښې دي او دکرېدلیو وطنوالو دکړاونو او ستونزو څرګندونه یې دهنر او ادب په خورا لطیفه ژبه پکي په ډېر مهارت سره ځای کړیده . بناءً زهٔ له لوی خدای (ج) څخه دنو موړي په ژبه زړهٔ او قلم باندي دبرکت پیرزوینه غواړم او ټول علمي او ادبي اشخاص او په مطالعه مین ځوانان ددې کتاب مطالعې ته رابولم ترڅو دهغوی ادبي تنده وربانـدي ماته شي ، نورموپه بې زوالـه څښتن سپارم ښاد او اباد اوسئ

په خورامینه او پوره احترام

محمدنبي (حق پرست) مرکز ښرنه ، پکتیکا ، افغانستان

۱۳۹۰.۱۲\۱۸ لېږدیز لمریز

څوك په رضا له ملکه نهٔ ځي..... یا ډېر غریب شي یا دیار له غمه ځینه

پښتانهٔ لـه پېړیوراهیسي دغربت ، جګړو ، بې سوادي او جغرافیایي موقعیت له امله پردېسي ته اړشوي همدې پردېسیو یې وخت ناوخته داسي ناخوالي رازېږولې دي چي ډېرځهٔ پرې لیکل کېدای شي

ماپورته وویل: چي یوشمېرځوانان یې دیادوستونزوله کبله مسافري تـه اړ کېږي خو پاتـه نوریې بیا پـه غیرضروري ډول او یـاهم دنوروپه تقلید په لوی لاس له کوراو کلي کډه په شاکوي (کورپهٔ وطن

کورپه دوبۍ) لـه بده مرغـه رښتینې پېښه ده چې دالحاج وکیـل بادشاه خان (شرنوال) په خوږه او کلیوالـه پښتو ناول پرې لیکلی الحاج وکیل بادشاه خان (شـرنوال) چې زهٔ پېژنم تـل یې پـه پکتیکـاکې دپښتوادب اوکلتورپـه وده کـې لـه پکتیکاښـتو فرهنګیانوسـره پـه ادبـي غونډواومشاعروکي ځان ندی سپمولی داناول یې هم دهمدې مینې اولېوالتیاثبوت دی.

پـه ناول کې دځوانانولپاره خوراپـه زړه پوري پیغام پروت دی چې زهٔ فکرکوم دابـه پـه ځوانانوکي دمسافری داوج تـه ختلي رُجهان پـه راټیټولو کې پوره مرسته وکړي.

کـه څهٔ هم پـه ناول کې دلیکوال تخیـل اودصحنوانځورګري یوڅهٔ تـت بربښي خوزهٔ باورلرم چې لوستونکي به یي تودهرکلی وکړي پـه پـای کې زهٔ دلوی څښتن لـه درباره پښتون اولـس تـه پـه خپـل کورکې دبسیاینې اوالحـاج وکیـل بادشـاه خـان (شـرنوال) تـه داوږدهٔ عمراولاډیـرو بریالیتوبونوغوښتونکی یم.

په خورادرښت

دوست محمد (ځونډی) مرکزښرنه ، پکتیکا ، افغانستان

۱۳۹۰ هـ ش

اسمعيل ډېر كوچنى وه چې پلاريې مړشو د اسمعيل سرپرستي مور زرغونې اګوته ورپه غاړه وه د زرغونې اګوډېراولادونه شوي وه مګرټول په كوچنيوالي كښي مړه شوي وه يوازې اسمعيل پاته وه د كور ګزاره به زرغونې اګوډېرپه مشكل د چرګو پرهګيواويونيم چرګ به يې كله كله خرڅاوه د كلي نيالئ اوتوشكي به يې پربيه ګنډلې اود كلي خيراوخيرات ته ناسته وه اسمعيل يې په ډېرناز لوياوه ډېر تكليفونه . ربړونه او مشكلات يې ورسره ګاللې كله چې اسمعيل زلمى شو ډېروښو اخلاقو خښتن وه پركلي اومنطقه كي يې ډېرمحبوبيت پيداكړ د هركليوال داشر په كاركي به موجود وه كله چې به يې خپل ځاني كارپيداشو هم به يې كاوه دكلي او منطقې دځوانانوپه مجلسوكي به كشېناسته رنګارنګ خبري به يې اورېدلې څرنګه چې په وطن كښي بې روزګاري ډېره وه اكثره مجلسونه دايران ، دوبئ او پاكستان له ګټوڅخه غږېدل دغو مجلسونو پر اسمعيل ډېرتاثيركړى وه هره شپه به يې يوخيالي دنياجوړه كړه دايران اودوبئ دتللوپه چكركي شومګراقتصادي ډېر كمزورى وه دتلولاري چاري يې هره ورځ لټولې ډېرې هلې ځلې يې كولې ډېرپه سوچونواوفكرونو كي وه . زرغونه اګودده په پريشاني پوهېده هره ورځ به يې پوښتنه كوله ولي زويه پريشانه يې مريض خوبه نه يې ، چاخوبه څه نه وي درته ويلي ؟ نه مورې ښېخي روغ جوړيم نه چاڅه راته ويلي دي مورته دحال ويلوهم زړه اونازړه وه دابه يې ويل كه مورته ووايم ځواب به رانكړي لابه ډېر پريشانه شم يوه ورځ د خپلوهمزولوپه مجلس كي يوتن همدغه كيسه كوله دكمال اكازوى جانان له قاچاقي لاري دوبئ ته ډېرپه ارزانه بيه رسېدلى دى اوكورته يې فته راغلې ده د دوبئ

دکارویي ډېره خوښي پکښي ویلې ده په هغهٔ هره ورځ داسمٰعیل حواس نور پارسوب هم واخیست له مجلسه جګ شوویې ویل! زمایوډېرضروري کار پیدا شود هغه ویالې پر غاړه کشېنوست چي دزمري اکااو ددوی دځمکي تر مابین تېره وه اوددوی ځمکي اوبه نه درلودلې شاړه پاته وه . له ډېروچورتونو وروسته یې نظرپه خپله شاړه ځمکه ولګېده په ډېرجګ اوازیې وویل! هوکاروشوزمری اکاخوماشین لري اوزمور ځمکي ته نیژدې هم پروت دی خپله ځمکه به پرهغه خرڅه کړمه له ځانه سره یې وویل نن شپه به په دې باب حتمي مورته وایم کله چي شپه شوه موریې ډېره ښه دشکنې ډوډۍ تیاره کړې وه دلوښي پرسریې دوه دانې هګۍ هم ایښې وې اسمٰعیل ډېرپه تلوارډوډۍ وخوړه له ډوډۍ وروسته موریې چای راوړ اسمٰعیل خپله خولهٔ پرخبروپرانیسته اوویې ویل مورې!یوه ډېره ضروري خبره درته کوم ګوره چي انکارونکړې دا زمور په ګټه ده که دي انکاروکړ تول عمربه مي پرېشانه کړې موریې یوناڅاپه له خولې ووتل وی زویه مره دي شم چي تابه پرېشانه کوم وایه څه خبره ده اسمٰعیل په دغه ډول بیان شروع کړ، مورې د کمال اکازوی جانان دایران له لاري دوبۍ ته رسېدلی دی فته یې راغلې ددوبۍ د کارونو په باب یې ډېره خوښي پکښي ویلې ده موریې وویل ښه دی زویه کمال اکاهم ډېرغربت او بېوزلي تېره کړه خدای دې پرې پورته کړي مورې زه هم غواړم چي پدې ډول دایران له لاري دوبۍ ته ولاړم شم خودیو هوساژوند خاوندان شوپدې ترڅ کښي ناڅاپه دمورله لاسه دچایوپیاله ولوېده بې له درنګه یې وویل زویه! چي داسي کارونکړې مایوازي تنها پرېږدې ستادجدایي له غمه به مړه شم دکلي غوبنی به

وکړم مګرستا مسافري نه قبلوم موري تازما په پالنه کښي ډېر تکليفونه او مشکلات ګاللي نورنه غوارم چي ستاژوند په کړاونوکي زيات دوام ومومي زما يواځيني هيله داده چي تاته يوسوکاله ژوندبرابرکړم پدې کورکي ستالپاره نوکره وي ستاامر اودهغې غوړونه وي اوستامشغولاله وړو، وړوماشومانوسره وي.

وږئ زويه!داخه ګډي وډي وايې کوژده غوارې؟ کوژده به هم درته وکړم يوڅه شاړه ځمکه لرو هغه به خرڅه کړونورخداى مهربان دى ووبه شي نه مورې ژوند نوري ډېري اړتياوي لري داټول پرهغه شاړه ځمکه نه پوره کېږي دهغې ځمکي په باب ماسوچ وهلى دى ښځ په زړه پوري سړى مي ورته ليدلى هغه دزمري اکاځمکي ته نژدې ده په هغه به يې خرڅه کړم يوڅ روپۍ به په کورپرېږدم نوري به زه تردوبيه خرڅي کړم موريې له ډېره ځنډه وروسته وويل! په دغه خبره به ښځ سوچ وکړو سهاردي خداى خيرپيښ کړي مګرستا جدايي ډېره راته ګرانه ده دماخستن له لمانځه وروسته زرغونې اکوداسمعيل پرحق کي ډېري دعاوي وکړې دخوب وخت و نيالۍ اوبرېستني يې ورواچولې مګريوه ثه هم خوب نه ورته ، دزرغونې اکوغوږوته به کله کله داسمعيل هغه ژغ لپاره په دغه کورکي به خدمتګاره وي ته به له وړو وړو ماشومانوسره ناسته يې لېرحواس به راپورته شومګرډېرزبه داسمعيل دجدايي فشارورباندي زيات شوله ځانه سره يې وويل نه نه ، نه دي پرېږدم!کله کله به دغه اوازلېږ غوندي په زوره شوچي اسمعيل به هم آورېدۀ مګراسمعيل پخپلو چورتونو کښي ډوب تللى وۀ کله چي به په اړخ واوښت ويل به يې خدايه! زمرى اکا به يې واخلي اوکنه؟ داغږزرغونې اکوهم اورېدۀ شپه

پردواړوباندي ډېره نا آرامه اوبې خوبه تېره شوه سهاردملاصاحب دآذان سره دواړه لمانځه ته جګ شول له لمانځه وروسته زرغونه اګودچای پخولولپاره له کوټې ووته اسمٰعیل سر په زنګون ایښی وۀ خپله وظیفه یې کوله زرغوني اګولېږخند زیات شو اسمٰعیل پرچای نمازباندي په ناستوویدۀ شوی وۀ زرغونه اګوورغله پراسمٰعیل یې ژغ کړ اسمٰعیله زویه! چای تیاردی مګراسمٰعیل ویدۀ وۀ زرغونه اګو په پټه خوله ووتله ټوله شپه یې بې خوبه تېره کړه عجب ویده شویدی چای جوش یې دانغړي ترڅنګ کېښود دکورپه کاربوخته شوه داسمٰعیل یوه ناره له خولې ووته جانانه ودرېږۀ ژغ یې په انګړکي مور واورېده په وارخطا راغله زویه! خیرت ده اسمٰعیل له خوبه بیدارشو مورې خوب مي لیدلوبۀ ته تللی یم ډېرښۀ ځای وي زۀ اوجانان په یوۀ اطاق کي یو هرڅوړځ کارته ګډځوله کاره واپس راتلوجانان وویل! چي اطاق ته نشې تلای له ماڅخه یې منډه واخیستله په هغه پسي مي نارې وهلې،زویه! چای مخکي پوخ وۀمګرته ویدۀ وې اوس به یې راوړم زرغوني اګو دانغري له غاړي چای جوش راواخیست اسمٰعیل وویل! مورې څنګه شوانشاءالله اجازه خوبه راکړې زویه! زما زړۀ خوخدای که وي خواوس دي دواړه پښې په یوه موزه کي چخ کړېدي خیر دی کمال اکاستاله نیږدې تربروڅخه ده وربه شودفتې احوال به هم واخلودځمکي په حصه کي به زمري اکاته کمال اکاوروليږوکمال اکاډېرښۀ نبك سړی دی ښه صلاح به ورسره وکړوجانان خوستااشناوۀ خامخابه یې ستالپاره په فته کي څۀ ویلي وي اسمٰعیل دموړپرخبروډېرخوشحاله شوله ځانه سره یې وویل دغه کارهم خدای وکړله چای خوړلووروسته دواړه دکمال اکاکورته

ورغلوله پوښتني وروسته زرغونې اکوو ویل! سترګي مو روښانه دزوی فته موراغلې څهٔ یي پکښي وٸلي ، زرغونې خیراوسې رښتیادزوی فته موراغلي وه ددوبۍ دکارویي خوشي ویلې مګرد لاري بیان یې نه ده پکښي کړی صرف دومره یي ویلي چي دایران دقاچاقي لاري څخه دوبۍ ته راغلم دروزانې کارونه کوم زه کوشش کوم چي کوم قانوني پاسپورت پیداکړم تراوسه پټ ګرځم . رښتیاتااواسمٰعیل ته یې هم سلام ویلی دواړو په یوه خولهٔ وویل واعلیکم السلام . ! زرغونې اکو دزړهٔ غوټه خلاصه کړه کمال اکادجانان دفتې سره مي زوی بېخي په هواشوی اوس وایي چي زهٔ هم دوبۍ ته ځم ډېرمي ورته وویل مګرنه مني دلاري خرڅ هم [illegible] زمري اکاد ځمکي سره زموږهم څهٔ شاړه ځمکه شته هغه ځمکه پ. زمري اکاخرڅه کړه کمال اکاوویل! خیردی یوڅهٔ صبرو کړه جانان خوستااشناوهٔ هغه به سمه ویزا درته راولېږي ځمکه ولي خرڅوې زهٔ به په فته کي هم ورته ووایم اسمٰعیل وویل! کمال اکاډېره مهرباني به دي وي چي دا ځمکه راخرڅه کړې زرغونې اکووویل! کمال اکاښه خبردرته وکړه ویې منه . نه مورې بس ځم زرغونې اکوبیاکمال اکاته مخ واړاوهٔ دزمري اکاسره خبري وکړی کمال اکا وویل صحیح ده زه به نن خبر ورسره وکړم بیابه احوال درکړم اوس اسمٰعیل ډېرخوشحاله وهٔ په هرمجلس کي به یي ویل انشاءالله دوبۍ ته به ولاړ شم کله کله به یي یونیم ملګري ته ویل که زهٔ په خیرت دوبۍ ته ورسېدم ښکلې تحفې به درته رالېږم کمال اکادزمري اکاسره خبره کړې وه زمري اکا دځمکي اخیستلودوه شرطه پکښي ایښي وهٔ اول به دځمکي قباله عرفي یا شرعي راکوي دوهم به دځمکي روپۍ په دوه قسطوورکوم

دوهم قسط به شپږ میاشتي بعد ورکوم داشرطونه اسمعیل اوزرغونې اکوته منظور وۀ سمدستي یي دګزاوګام لپاره یوخوکلیوال کمال اکااواسمعیل سره دزمري اکا ځمکي ته ورغلوله ګزاوګامه وروسته معلم صاحب حمیدالله عرفي قباله ولیکله.کلیوال یې پکښي شاهدان ونیول اول قسط پیسې یې اسمعیل ته وسپارلې اوس نو د اسمعیل ددوبۍ له تګه ډېرخلك خبرشوو کله کله به یوه نیم وویل دپلارځمکه یې خرڅه کړه لیږبه موسکاغوندي شو دوبۍ ته ځي دغه خبري به اسمعیل ډېر ځوراوۀ ۷،۸ کلیوچي یوکوچنی بازاردرلودلس دکانونه. یوهوټل ، یوه دواخانه اویوه ژرنده پکښې وه په هره دوشنبه به یوموټرډاټسن له همدغه بازاره د پاکستان تربادره پوري تله دمسافرولست به دبازارهوټلي لیکلو اسمعیل هم د موړپه صلاح په هغه لست کښي دراتلونکي دوشنبې دورځې نوم ولیکواوله هغه کوچني بازاره یې دکورسامان راواخیست دتګ خبره یې ښځي پخه شوه دکلي ښځي به ډلي ډلي دزرغونې اکوکورته ورتلې چي تسلي به یي ورکوله چابه اسمعیل ته دعاوي کولې چي خدای مخه ورکړي زرغوني به آمین وایو اطرافي ښځي وې یوه هم په قاچاقي لاره نه پوهېده چي څومره خطرناکه ده یوې نیمي به وویل ښه ده نن سباخو موټري ښته دلته به سپورشي په دوبۍ کي به کښته شي دورځي له مخې به همزولو وارپه وارمېلمه کاوۀ مګردډوشنبې په شپه ټولو همزولوپه شمول دکمال اکااو اسمعیل مېلمانه وۀ له ډوډۍ خوړلو وروسته کمال اکاجېب ته لاس کړهغه فته چي جانان ته یي ډکه کړې وه په سپین ټوکرکي ګنډلې وه اسمعیل ته یي ورکړه دغه به جانان ته ورکړې سلامونه به مي ډېرورته وایې اسمعیل فته په جېب کي

واچوله کمال اکا تاته اجازه ده مگرپه موربه مي ډېرپام کوي اسمٰعیله! مورته دي اندېښنه مه کوه ببغمه اوسه سهاربه دکلي میدان ته راووځي کمال اکا اولاړ همزولي پاته شوۀ همزولوغوښتوچې ترډېروله اسمٰعیله سره کښېني مگرزرغونې اگوبه وار وار ویل زویه! اسمعیل هم سباروان دی تاسي ته به هم خوب درځي اوس ولاړشئ سهاردي خدای خیر کړي له ډېره ځنډه وروسته همزولودزرغونې اگوخبره ومنله اوولاړو زرغونې اگود کمیس له لستوني څخه ستن اوتار راواخیستو دا روپۍ به د سدرۍ په شاکي درته وگندم یوڅو روپۍ به دکمیسه په جېب کي کېږدې مگرپه لاري ډېرپام کوه چي څوك یې درڅخه یونسي موري!ببغمه اوسه سنمدستي یې واسکټ وزوکیښ زرغونې اگودواسکټ په شاکي روپۍ ورته وگنډلې شپه یوڅۀ په خبرواویوڅۀ په استراحت تېره شوه سهارترچای خوړلووروسته اسمٰعیل او زرغونه اگود کلي میدان ته ورووتل کلیوال په میدان کي په انتظارناست وۀ ددوی په رسېدوکمال اکادکلي په ملاژغ وکړملا صاحب! دعاکوه چي رخصت یې کړو چي موټرځیني ولاړنشي له دعاوروسته ټولوپه غېږخدای په اماني ورسره واخیسته کمال اکازرغونې اگوته مخ واړاوۀ خدای په اماني ورکړه زۀ ترموټره ورسره ځم زرغونې اگوټینگ په غېږکي ونیوپه دواړوسترگویي څو څوځله ښکل کړدمسافري پنډوکی چي دغنمونیني یوڅوپخې هگۍ ، دوه دانې روغاني ډوډۍ اودوه جوړه کالي وۀ اسمٰعیل ته یي ورکړوپه شایي یوه چمبه وواهوځه زویه!الله دي مل شه دواړه سترگي یې له اوښکو ډکي وې اسمٰعیل دمورلاس مچ کړویې ویل! له حقه مي خلاص کړه مور یې بیاپه غېږکي ونیوله

حقه مي خلاص يې کمال اکاسره داسمٰعيل اوخو همزولودهغه کوچني بازارپه لورروان شوۀ څو ځوځله اسمٰعيل شاته راکتل مور ته به يي دلاس اشاره کوله دکلي ښځوټولو په باموداسمٰعيل دتګ کتنه کوله د کمال اکابنځه جانبخته چي هغه هم سپين سرې وه زرغونه اګويي ترلاس ونيوله کورته يي بوتله اوتسلي يي ورکوله اوورته ويي ويل، چي اوله ورځ د جانان تګ په موږه هم ډېرسخت وۀ اوس خداى صبرراکړيده دعاپسي کوه دهرکلي مسافراو خلك هغه کوچني بازارته دلي دلي راتلو هغه شين رنګې داټسن دهوټل په مخکي ولاړه وه په ټاکلي وخت دسهارپه ۸:۰۰ بجي ټول مسافرحاضرشول په هغه ورځ (۱۲) نفره مسافروۀ چي اسمٰعيل هم پکښې وۀ دډاټسن ډرېورچي پکول يې په سر وۀ اوږده اوږده وېښتان يې پرېيښي وۀ د ځپلي وانېي يي خلاص وۀ ، سګرېټ يې په لاس کي نيولى وۀ اوله هغه راووت په مسافرويې غږکړناوخته دى خېژئ مسافرودخداى په اماني وروسته ټولوخپلي وړې وړې غوټي ورواخيستې دموټر سيټانواوباډئ ته وختل اسمٰعيل په باډئ کي کشيناست اسمٰعيل ډېرخوشحال شو ځکه چي ډېر مسافر شناخته وۀ دلاري بلدوۀ کمال اکامسافرڅوواري په دې خبره ټينګول چي اسمٰعيل نابلده ده پام به پرې کوئ وروسته دډريورشيشې ته ودرېدۀ په اسمٰعيل به ډېر پام کوئ له هغه خوابه يي احوال راوړې بيايي اسمٰعيل ته مخ واړاوۀ چي باډر ته ورسېږې ډريورته به احوال ورکوې ۸:۱۵ بجي وې موټرحرکت وکړ نور خلك څوك په بازارکي پاته شوۀ څوك دکليوپه لوري ولاړو ،دپاکستان تر باډرپوري په لاره کي ځوځايه پاټکونه وۀ چي هريوۀ يي جلا جلا قانون درلود اودمسافروغوټي به يي تلاشي

کولې خپلې شوکې به يې ځيني کولې دشپې له لورې به موټردغلوله امله تګ نه کاوۀ دلارې په کوم هوټل کې به يې شپه کوله سرکونه ډېرخراب وۀ يوه شپه په لارې بله شپه به يې باډرته رسوله ، شپه يې دلارې په هغه کوچني هوټل کې شوه چې دلارې په سرجوړشوی وۀ دهوټل شاګردبه په مسافروژغ کاوۀ ډوډۍ څۀ شی خورئ شوروا او که قورمه؟يو نيم مسافربه وويل: ډوډۍ خپله لروچای راوړه دهوټل شاګردبه په ډېره بده لهجه وويل: که ډوډۍ نه خورې دهوټل تجائي به راکوې ټول مسافرمجبوره وۀ چې ډوډۍ يې خوړلې وای ځکه چې بل هوټل نۀ وۀ دډوډۍ روپۍ دبازارله نرخه هم جګې وې اسمٰعيل هم دهوټل له شاګرد څخه قورمه وغوښته چې په هغۀ کې يوبځرۍ غوښه نورکچالواو اوبۀ ډېرې وې اسمٰعيل وويل: دغه اوس قورمه ده داخوټول کچالودي اوډوډۍ هم سړه ده دهوټل شاګردوويل په دغه دشته کې چې دغه پيداشي هم خوشحاله اوسه ماته خوښکاري له کوره نوی راوتلی يې دډوډۍ اوچای خوړلوو وروسته دهوټل شاګردروپۍ ټولې کړې منزل وهلي مسافرډېرستړي وۀ هريوۀ پخپل خپل ځای پشې وغزولې په يوه يوه ډډه پربوتل ځکه چې هوټل کوچنی وۀ اومسافرډېروۀ سهاروختي ډرېورانو موټرچالان کړل هارنونه يې شروع کړوټول مسافرخپلوخپلوموټروته وختل ډرېورانوموټرټايرونه وټکول دمسافروتعداديې پوره اوحرکت يې وکړټوله ورځ يې په حرکت کې تېره کړه دماښام تياري خپرې شوې وې چې باډرته موټرورسېدل په باډرکې هوټلې ډېرې وې هرموټروان موټرهغه هوټل ته دراوۀ چې دهوټلي سره به يې د مسافروپه وروړو يوڅه حساب داسمٰعيل دغوډرېورهم يوه کوچني هوټل مخې ته موټر

ودراوۀ چي مخ ته يي يو کوچنی جنراتورچالان وۀ يو ګروپ د باندي اوڅلورګروپونه په هوټل کي دننی لګېدل مسافرټول دوړوپنډ کوسره هوټل ته ننوتل هوټلي ورته ستړې مشې وويل له ډېرو سره يي په غېږ پوښتنه وکړه اوله خپل ځان سره يي ډېرنيږدي کشېناوۀ دډوډۍ اوچای خوړلوورو سته ډريور خپله کرايه راټوله کړه . ژغ يې وکړزۀ سهارو ختي آډې ته ځم موټرکي پرېوزم که څوك احوال راکوي رايې کړئ اسمٰعيل ته خپلو ملګروويل؛ دسرلپاره به يوه سپکه خولۍ واخلې پګړئ ورکړه يوبه يي سي اسمٰعيل خپله پګړئ ډېرورته ورکړه او ورته يي وويل؛ پګړئ به دبازارهوټلي ته ورکړې هغه يي زموږکورته لېږي اودابه ورته ووايې چي موږپه خيرت باډرته راورسېدوډېرورته دخدای په اماني په وخت کي هوټلي يو پاکټ سګرېټ ورکړود چای اوډوډۍ روپۍ يې نه ورځخه يوړې ډېر ورد پاکټ څخه يو سګرېټ راوکيش اونورپاکټ يې په جېب کښي واچاوۀ هوټلي ورته اورلګيت ولګاوۀ سګرېټ ته يي ونيوډېرورد لاس په اشاره له هوټله وۀت په هوټل کي ځوړندساعت کي دشپې ۱۰:۰۰ بجي وې هوټلي شاګردته اشاره کړه جنراتوربندکړه مسافروپرېوزئ مسافروچي بيګانئ شپه هم ناآرامه تېره کړې وه ډېرستړي هم وۀ خپل خپل پنډوکي يې ترسرلاندي کړل څادرونه يي دسر دپاسه راکښ کړل پرېوتل.داسمٰعيل مور ډېره يادېدله دشپې ترډېره وخته ناآرامه وۀ سهاردچاۍ خوړلوورو سته ملګرواسمٰعيل ته وويل؛ هرڅو افغانۍ چي درسره وي اوس به يې بدلوۀ په پاکستانی اوايران کي افغانۍ نه چلېږي يوځۀ به تومان واخلو يوڅۀ کلداري اسمٰعيل دواسکټ شا وسپخوله اوګنډلې افغانۍ يې راوکيښلې زړۀ يي ډېرډك شومګرله

شرمه یي څه نشوای ویلای په بازارکشي کلداري اوتومان واخیستل دپاکستان په باډر ورروان شوۀ په باډرکشي ډېرسخت بیړاوباروۀ ملېشه اوفوجیان ولاړوۀ کله به یي دخلکو په مخ باډربند کړ کله به یي یو ۱۰ دقیقي خلاص کړاسمٰعیل ملګرو څخه یونفردملېشي له نفروسره دباډرپه تېرېدوپه یونفر (۵۰) کلداري خلاصه کړه چي د(۱۲) نفرویي (۲۰۰) روپۍ ورکړي په ډېره اساني ترباډرتېرشوۀ هرفوجي یاملېشه نفرچي به رامخته شودروپۍ اخیستلوبه یي خپل نفرورته معرفي کول دموټرو آډې ته ورغلوپه هغه بس کشي کښناستل چي کلېنریي د کویټې ښارناري وهلي ترکویټې ښار پوري څوځایه پاټك وۀ چي په رنګارنګ نومونویي روپۍ ځیني وړي دغرمې ډوډۍ خوړلوټیم ته دکویټې ښارته بس ورسېدو دآډې په مسافرخانه کي دری کسیزڅلوراطاقونه ونیول پنډوکي یې پخپلواطاقونوکي کېښودل دډوډۍ خوړلوپاره کشته هوټل ته راکشته شول له ډوډۍ خوړلو وروسته دوېښتانوداصلاح اودغسل لپاره حمام ته ولاړوملګرویي په اسمٰعیل ټوکي وهلې راځه په ګرمواوبوبه حمام وکړې . په شامپوبه سرپاك کړې،ځان به ښه صفا کړې اوهرڅۀ په حمام کي شته رابه شو . په زرغونې اګوهغه ورځ ډېره سخته په پرېشاني تېره شوه ماښام زرغونه اګوله څوګرمو پیراټوسره دمسجدپه دروازه کشي ناسته وه کله چي ملاصاحب لمونځ خلاص کړله دعاوروسته زرغونې اګو ملاصاحب ته ژغ کړملاصاحب! یوه دعازما زوی ته وکړه دغه پیراټې خلکوته ووېښه کمال اکاپیراټوته ورجګ شوټولو خلکوته یي تقسیم کړې دپیراټولوښې یې زرغونې اګوته ورکړ کمال اکا دلاس جوربتۍ دمسجدپه کوښکم کي ورړناکړه

زرغونه اکوله مسجده ووته زرغونې اکوله چايوسره يوه دانه پاته پيراټه وخوړه يوازي ناسته وه رنګارنګ سوچونه يې وهلوخدايه: اسمعيل به څنګه وي؟چېرې به وي؟کله کله به يې له ځانه سره وويل:

دمسافرو مل شې خدايه ـ باران به اورې څوك به ځاى نه ورکوينه

مسافرمه وژنې خاونده ـ په انتظارکشې ورته ميندې ناستې دينه

زرغونې اکوته چې معمولې خرخه پرې ايښې وه هغې ته ډېره ښکارېده نوريې د نياليواو توښکوله ګنډلوڅخه لاس اخستى وۀ يوازې به يې کله هګۍ او يونيم چرګ هم خرخاوۀ ټول سوچ اوفکريې دزوى په طرف وۀ زياتره وخت به دکور په برنډه کې په چرتونوکې ناسته وه ترڅنګ به يې خړرنګه پشې دلمرپيتاوې ته پرته وه کله کله به په اطاق کې سخته په چرتونوکشې ډوبه وه يونيم کليوال چې به دهګيواخيستلولپاره راغلى وۀ دروازه به يې ټکولې وه واپس به ولاړاوله ځانه سره به يې وويل: زرغونه اکوسخت ويده شوې کمال اکاڅلورمه ورځ سهار ۸:۰۰ بجې زرغونې اکوپه دروازه کې ژغ کړزرغونې بازارته ځم څۀ شى خوبه دې پکارنه وي که دا سمعيل احوال وۀ هغه احوال به هم راوړم خيراوسې اسمعيل دکورټول سامان راوړى ډېرګډوډخوبونه وينم که احوال يې راغلى وۀ را به يې وړې ډېره به ښه وي کمال اکادبازارپه لوري ولاړجانبخته اکودکمال اکا ښځه به کله کله دزرغونې اکوکورته دهغې دسوچ غلطولو لپاره راتله دغرمې مهال وۀ چې جانبخته اکود زرغونې اکوکورته ورغله زرغونه اکودکورپه انګړ کې په انتظارناسته وه خپلې دوه سترګې يې دروازې ته نيولې وې دجانبختې په ليدوسره يې وويل کمال اکارغى؟ دا سمعيل څه احوال راغلى وۀ؟ جانبخته له موضوع څخه

ناخبره وه په واك يې كمال چېري تللی چي د اسمٰعيل احوال يې راوړي كمال اكا سهار د لته راغلی وۀ ويل يې چي بازارته ځم که څه شی دي پکار وي را به يي وړم که د اسمٰعيل احوال راغلی وۀ هم به يي راوړم هرشی په کورکي شته يوازي اسمٰعيل نشته د اسمٰعيل احوال که يي راوړۀ بربه ښۀ شي دوی لاخبري نه وې خلاصي کړي چي کمال اکا دروازه کي ژغ کړ زرغونې زوی دي په خيرت د پاکستان ترباډر رسېدلی د سرپګړی يې ډريورته ورکړې وه دغه ده رامي وړه زرغونې اګوچي د اسمٰعيل په پګړی سترګي ولګېدې په رېږدېدلو لاسو نويي پګړۍ راواخيستله په ځان پوري يې کلکه ونيوله بېهوشي پرې راغله د شاپه تخته رنګه شوه لاسونه يي ساړه له پګړی څخه خلاص شول په ځمکه ولوېده پګړۍ يې د سينې د پاسه پاته شوه رنګ يې تك زېړ ولاړ جانبخته ډېره وارخطا شوه کماله ژر کوه ملا صاحب راوله چي دم يې کړي کمال اکا يو تجربه لرونکی سړی وۀ ويل يې! خيردی بېهوشي پرې راغلې په مخ يې يو څه اوبه واچوه راپه هوش به شي جانبختي اګو يو څه اوبه په مخ ورواچولې زرغونه اګو ليږ څنډوروسته راپه هوش شوه د زوی پګړۍ يې په غېږکي پرته وه څوځوځله يي ښکل کړه جانبختي د صبراوحوصلي خبري ورته کولې جانبختي کمال ته وويل! تۀ درځه زۀ يو څۀ وخت د لته پاته يم زرغونې اګو وويل! خيردی ډوډۍ به دلته وخورې کمال اکا وويل! خيراوسې زه ستړی يم ځمه کورته له دروازې ووت زرغونه اګو او جانبخته اګو ډوډۍ خوړلو لپاره کوټې ته ننوتلې دوی به په ډوډۍ پرېږدو ولاړبه شو د کوټې بنا رته.

اسمٰعيل او نورمسافرپه هغه ماښام تقسيم شول څلورنفره کراچۍ ته سپاره شول دوه نفرو په کوټه ښارکي خپل ځانته کارلټاوۀ ، اسمٰعيل

په شمول دشیږو نفرود ایران نېت وۀ هغه شپه یي په کویټه ښارکي تېره کړه پدې چې هغه سړی نهٔ وۀ راغلی چې دوی ورته بدرکچي وایي سباسهار ۹:۰۰ بجې بدرکچي هغه هوټل ته راغی چې اسمٰعیل اوملګري یي پکښې وۀ دهوټل مالك بدرکچي داسمٰعیل کوټې ته وروست له پوښتني وروسته یي بدرکچي ورته معرفي کړدغه سړی امان الله نومېږي تکړه بدرکچی دی ډېروخت کېږي چي زماله هوټله نفرتېروي دیوه نفرپه سریې(۷۰۰۰) کلداري دایران دزاهدان ترښارپوري ورسره خلاصي کړې مانښاء یې دبس ټکټ راواخیست دبدرکچي په روپوکي د هوټلي هم حیصه وه مانښام یي د هوټلي حساب خلاص کړ ډوډئ خوړلو وروسته سره له بدرکچي بس ته جګ شوۀ بدرکچي مخ راواړاوۀ وې ویل: چې که په لاري پولیسوپوښتنه وکړه چې چېري ځئ ؟ دیوه وړوکي ښارنوم یې وښوود چې هغه ته ځوله ډریورسره په ځنګ کښېناست په غوږکي یي ورته وویل: شپږنفره دي په دغوټکټوکي دبدر کچي هم حیصه وه موټرحرکت وکړناستومسافروپه موټرکښي دسفردعاوکړه په لاري پاټکونه ډېروۀ کله به چي موټرودرېدۀ پولیس به راجګ شوۀ کله به بدرکچي اوکله به کلینر په لاس کي یوځوروپئ ورکړې پولیس به واپس ښکته شول بدرکچي اوډریوربه رنګارنګ فتې ټیپ ته وراچولې دشپې دچای خوړلو لپاره کله چي په یوۀ هوټل موټرودرېدۀ دهوټل مخته په کټونوبانـدي ټول مسافرد چای خوړلولپاره کښېناستل بدرکچي اوډریوردچای خوړلو مخته دټولو مسافروپه مخکي دچرسوسګرېټ ډك کړاوویي څکاوۀ اسمٰعیل ملګروته وویل: هغه زموږ اوستاسي چرسیانوخوبه له خلکوچرس پټ څکول داخوپه ښکاره څکوي چېري موټرکومي کندي ته وانه اچوي پایي ټکرنکړي ملګري لیږورته په خندا

غونډي شوۀ وې ویل! دغه عادت دی هره ورځ ځي اوراځي فرق نه ورکوي ځۀ چي مقرره وي هغه نه رد ېږي کله چي موټر هغه واړۀ ښارته ورسیده بدرکچي اسمٰعیل دغو یوزاړۀ هوټل ته بوتلو یوزوړاطاق وۀ چي درسیو چپرکټونه پکښي پراتۀ وۀ د کټملو پکښي ځالي جوړي وې ډېرچټل وۀ بدرکچي وویل! ترماښامه به دلته یاستئ ګورئ ډېر دباندي مه وزئ په بازارکښي به موپولیس ونیسي زۀ ماښام راځم بیابه هوټلي په بله ژبه ژغ کړمسافرښۀ وساته دغه ژبه بلوچی وه چي اسمٰعیل ته ډېره نابلده ژبه وه دچای خوړلووروسته په یوۀ چپرکټ کي دوه دوه نفره دلیږ استراحت لپاره پرېوتل ماښام بدرکچي په یوۀ اوږده ایراني سیمور موټر کي سره له دریونوړونفروچي لنډۍ ژیرې وې اوږده اوږده بږېتونه توري څپلۍ یې په پښواو دڅپلیوتلي یې ډېرډبل وۀ په قوم بلوچ برګ برګ رویمالونه یې تر سرتاوکړي وۀ په پښتوژبه هم ښۀ پوهېدل وې ویل! ډوډۍ وخورئ له خیره سره حرکت دی له ډوډۍ خوړلووروسته دهوټلي حساب خلاص کړئ څلور واړو دچرسوچلم وڅکاوۀ مسافروته یې وویل! تاسوخوڅوك نه څکوئ مسافروورته د نه ځواب ورکړموټریو سیټه وۀ څلورواړه سیټ ته وروختل مسافرشپږواړه دموټر په باډۍ کي چي وړې وړې بوجۍ هم پکښې وې اوکلکلي یې په پوړو تړلي وې مسافروته هدایت وکړ ګورئ موټرترتیپتان ښار پوري نه درېږي ځانونه کلك ونیسئ موټردوړوکي ښارڅخه ووت کچه سړك ته ګډشو په هغه یې په (۱۰۰) هسپیډکي رفتار کاوۀ دشګوډېري غټي غټي غونډۍ وې موټرپردغوکښته اوپورته کېده سړوبادومسافروته په مخ سپېړي ورکولې سهاروختي تیپتان ښارته ورسېده دیوۀ ارباب کورته موټرداخل شود ارباب ډېره غټه مېلمه خانه وه کله چي په مېلمه خانه کي

کشپنا ستلو بدر کچي او څلورواړه ډېر په غټ اواز وخندل ډېر غټ بخت موده یوځل هم موږ روغ نه یو راغلي یاتاسو ډزي راباندي کړي وې یا مود غلو سره مقابله وه بعضي بعضي مسافر راځخه وویلي او دغسې پرېږدو معلو مېږي چي دعاوي درپسې دي، دارباب مزدورانو له ډاټسني څخه بوجۍ میلمه خاني ته راوړې ارباب سره ددوه مسلحو نفرو میلمه خاني ته راغی ټولو سره یې ستړې مشي وکړه دچای ترموزونه یې رامخته کړل چای وخورئ ټولي (۱۰) بوجی وې ارباب ته یې وروګیلې دغه شپږ بوجۍ دهیروینو دریٔ بوجۍ دچرسو اویوه بوجۍ کي شل دانې توپانچې دي اودغه شپږ نفره مسافر دي چي زاهدان ته یې...... اسمعیل حیران غوندي شو څومره غټ خطر سره راغلو رښتیا چي دمورد عاوي راپسې دي ارباب ته یې زموږ له روپو څخه دیوه نفر (۳۰۰۰) روپۍ ورکړې دمال روپۍ ارباب په کوټه کي حواله ورکړه ورځ ټوله دارباب په میلمه خانه کي تېره شوه خدای شته چي ډېره ښه ډوډۍ یې تیاره کړې وه ماښام ارباب دخپنتود موټر په باډۍ کي کشپنولوچي له زاهدان ښار څخه یې خپنتي راوړې وې ویل: سر به نه جګوئ هرپاټک به یې موټر دراوۀ ارباب نفرو به په لاس یوڅۀ روپۍ ورکولې کله چي زاهدان ښار ته ورسېدو څلور ملګري یې په زاهدان ښار کي بلدوۀ دخپلو شناخته کوټې ته ورغلو پدې کوټۍ کي ۷ نفره اوسېدل دهرځای خلك وۀ ډېر خوشحاله شو دهمدغو نفرو اندیوالان شوۀ ټول اندیوالان به دکارځای ته سهار وختي تلو چي دوی ورته پللکه ویلو اسمعیل او ملګري یې دروپو په چکر کي وۀ اسمعیل خپلي مورته داحوال دلېږلو هم ډېرپرېشانه وۀ داطاق اندیوالانو یوه ورځ وویل: دزرین کلي کلاخان کورته ځي ویل یې چي خطونه اوفتې ډکي کړئ زۀ اطاق ته درځم احوال به راکوی اسمعیل

ډیرخوشحاله شوملګري یې خط زده وۀ اسمٰعیل وویل: خط ولیکه. کلاخان له خپلې وعدې سره سم د دوی اطاق ته ورغی ټولو احوال ورکړچاورته خط، چاورته فته، اسمٰعیل هم د کلاخان مخته یو دانه خط اویودانه ټیکری کېښود او دخپل کورټول ادرس یې وربانديلیکلی وۀ کلاخان ته یې وویل: که دي کورته ورورو ډېره مهرباني به دي وي کنه نودبازار هوټلي ته به یې ورکړې هغه یې زموږکلي ته لېږي کلاخان وویل: دچانخښه نه ورم خیر' تۀ نوی یوبه یې سم خپل کوښښ انشاءالله کوم کورته به دې ورورم ېږغمه اوسه دایران لخوا افغانستان ته تګ دومره مشکل نۀ وۀ څلورمه ورځ سرې کورته رسېدلای شوای کلاخان له ټولو څخه خدای په اماني واخیسته سباپه خیرسره څم ټول اندېوالان له کوټې ورسره راووتل په مخه ښه یې ورسره وکړه اسمٰعیل وویل: مورته چې احوال ورشي څومرد به خوشحاله شي کلاخان وویل: انشاءالله کورته به یې ورورم رابه شوزرغونې اګوته چې زرغونه اګودزوی د پرېشاني له امله ډېرډنګره شوې ود خوراك یې ډېر کم شوی وۀ دماسپښین له وخته به کله نرئ تبه وربانديراتله دسردردبه یې هروخت وۀ کمال اکا د ولسوالی دبازارډاکترته راوستې وه ډاکتورته وویل: ډېره اندېښنه مکوه مرض دي نورهم اضافه کېږي زرغونه اګوپه ژړاشوه ډاکترصاحب! یوزوی مي ده نوی مسافرده ډېرراباندي ګران وۀ ډېرمي ورته وویل چې دلته دومره ګذاره کېږي مګرنه یې منله ډاکتورته وویل: اوس دعاپسي کوه زرغونې اګووویل: یوساعت مي له دعانه ده پرېږي ایښې ډاکترصاحب دزړۀ ټوټه راڅخه جلاشوې خدای خبرپه دغه درملوجوړه شم دډاکترله کتنځي څخه راووتل دکورلپاره یې په بازارکي چای، بوره او یو څۀ نورسامان واخیست ټول کلیوال په هغه تراکتورکي سپاره شول

چي له کلي دولسوالي بازارته دتېلولپاره راغلی وۀ واپس په هغه تراکتور کي ولاړزرغوني اګوبه دکلي په قبرستان کي دشهيدانو په مزارکله کله شمعي بلولې اوزوی ته به يي دعاوي کولې اوپه قبرونوباندي يي دهوادمرغانولپاره غنم اچول ښه مي هغه ورځ په ياد ده چي په چينايي باسيکل سپورغنم رنګی ځوان باسيکل شاته په کونجغه کي يو څۀ شی تړلی دکلي دماشومانو څخه داسمٰعيل د کورپوښتنه کوله دلاس په اشاره ځوان زماخواته راغی سلام ځواب اوپوښتني وروسته مي ورته وويل! څوك دي پکاروۀ؟ داسمٰعيل کور! ولي خيرت خوبه وي؟ داسمٰعيل احوال مي راوړی هغه په خيرايران ته راورسېدۀ دستي روان شوم دزرغوني اګودروازه مي وروټکوله زرغونه اګوليرځنډ وروسته دروازې ته راغله څوك يې؟ په جګ اوازمي وويل! زېری مي دربانديي دزوی خط دي راغلی په ډېرتلواريي دروازه خلاصه کړه چاراوړی همدغه ځوان دستي يي دکورپه برنډه کي پزی هوارکړدوه دانې بالښتونه يي له کوټې څخه راوايستل ښه زويه! چېري دي وليد کيسه کوه پخپلوسترګودي وليدترخولۀ دي جارشم ستا زوی اسمٰعيل د ايران زاهدان ښارته په خيرت راورسېديودانه خط اويودانه ټيکری يې راکړی زرغوني اګووويل! ټيکری بلاتوره پسې خط راته ولوله څۀ يي پکښي ليکلي دي کلاخان نالوستی وۀ خط يې ماته ونيوزويه ليږپه جګ اوازيې ووايه اوس خومي په غوږو هم تندرلوېدلی صحيح نه اورم دخط متن داسې وۀ:

ګرانې اومهربانې مورې!     السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته،

ستاپه دعاایران ته په خیرت راورسېدم اوس دایران په زاهدان ښارکي یم ددوبۍ لاري اوګودر لټوم ګوره بې دعامي نکړې هروخت دعاراته کوه ستا دعاته ډېر ضرورت لرم خرڅ راسره شته ډریورته مي خپله پګړۍ ورکړې وه خدای دي وکړي چي درکړي یې وي اوس دغه مسافرچي کلاخان نوم لري یودانه خط او یو دانه ستا لپاره ټیکری ورکړاوس مي هم بل سفرپه مخ کي ده دعا راته کوه دوبۍ ته چي ورسېږم احوال به درولېږم کمال اکا ، دهغوی کورنۍ اوټول کلي ته مي سلام وایه ستازوی اسمٰعیل.

څوځله یي خط راباندي ولوستلوزرغونې اګوویل! چای مي هېرشوما ورته وویل! نه زرغونې اګوزه یي ورکوم کلاخان دچای په سراسمٰعیل ټوله قیصه وکړه چي اسمٰعیل ورته کړې وه چي پخپله په دغوخطرناکولاروڅو ځله تللی یم دشپې ست (ننګ) مي ورته وکړ وې ویل! نورخطونه اوفتې مي هم ډېر راوړي کورته خامخاڅوك راځي اجازه مي ورکړه خدای په اماني مي ځني واخیسته زرغونې اګوبه دکلي په هرلوستونکي خط لوستلوکمال اکاکورته هم ورغلی وم داسمٰعیل په احوال ډېرخوشحاله وۀ، ولاړبه شوزاهدان ښارته اسمٰعیل اوملګري د(۱۰) نورونفروسره (۱۵) ورځي بعدد دوبۍ له قاچاق بر سره خبره په یوۀ نفر (۲۰۰۰) درهمه خلاصه کړه دورځي ۴:۰۰ بجې وې چي قاچاق بر دغه نفر سمندرته نیږدې یودختوزوړ کورکي کښېنول یودانه دوه تله برج یې هم درلودچي قاچاق برله همدغه برج څخه دسمندرپه لوري دوربین اچاوۀ کله کله به یي په مبایل ټیلیفون کي په عربي اوفارسي ژبوخبري کولې دشپې ډوډۍ یې په همدغه کورکشي وخوړله دشپې ۱۰:۰۰ بجې وې چي سمندرته پیاده رهي شوۀ سمندر نیږدې وۀ مګراغزي لرونکی

سیم يې په غاړه تېروۀ دسیم له هغه غاړې په اوبو کې يوه زړه کشتۍ ولاړه وه دوه نفره پکښې ناست وۀ سیم يې پورته کړ يو يو مسافر به يې په کشتۍ کې کښېناوۀ ټول مسافر سره دقاچاق بر په هغه کشتۍ کې سپارۀ شول هغه دواړو نفرو دلرګې دپاروګانو په واسطه کشتۍ ته حرکت ورکړ کشتۍ دسمندر دمنځ په لورې روانه شوه له یوۀ ساعته وروسته کشتۍ دسمندر مستو څپوته ورسېده کشتۍ به هرې څپې له ځانه سره پورته کوله بېرته به د سمندر په اوبو لوېده ټول مسافر خواشيني ناست وۀ کله چې به څپو کشتۍ پورته کړه دوی به هم په جګ اوازوویل! خدایه فضل ، کله کله به مست نهنګان او ماهيان دکشتۍ دلاندې په ډېره بيړه تېرشوۀ اوځان به يې له کشتۍ سره ټکر کړ چې کشتۍ به يې په يوه خواکېږه کړه ټول مسافر به پکښې جګ ودرېدل دفضل نارې به يې وهلې دسمندر له څپو څخه به کله کله یو څۀ اوبۀ هم دکشتۍ منځ ته راتوی شوې قاچاق بر به دستي پر مسافرو ږغ وکړ راتوی شوې اوبۀ سمندر ته واچوئ ، تپه توره تيارۀ وه دسمندر څپو شور او زوږ جوړ کړی وۀ کله کله به دتورو مرغانو سېلونه په ډېر تېز رفتار کې دکشتۍ له پاسه تېرېدل دشپې ۰۰:۵ بجې وې په (۱۰۰) متری فاصله کې په يوه سره اشاره دمسافرو نظر شو دکشتۍ له منځه قاچاق بر دلاسي جوربتۍ په واسطه اشاره ورکوله له هغې خواهم اشاره روښانه او واپس به مړه شوه قاچاق بر پخپلو نفرو ږغ کړ ـ ليرلاس وښوراوۀ زمور نفردي ليرڅنګ وروسته دهغه سرې اشارې ځای ته کشتۍ ورسېده هغه سره اشاره د سمندري لوی جهازوه دمسافرو کشتۍ ډېره نيږدې ورته ودرېده (۱۰) واړه مسافر يې سمندر جهازته ورجګ کړو دجهاز لاندې تل ته يې کوز کړو د کشتۍ څخه يې ورې ورې خلتې هم سمندري جهازته ورجګې کړې هغه خلتې

دهیروینوونو ټوله ورځ په سمندرکي وۀ دسمندردپاسه سپین مرغان چي اوږدي اوږدي پښې یې لرلې ګرځېدل کله چي به کوم کوچني ماهي دسمندرله سطحې ځان جګ کړد دغه مرغۀ ښکاربه کېدۀ ، دشپې ۱۰:۰۰ بجې وې چي سمندري جهازخپل ټاکلي ځای ته ورسېد له ډېره خندېدو وروسته دمسافروخانګړي اطاق ته دوه نفره راغلو چي سپیني دولتي جامې یې اغوستي وې څلورنفره یې له ځان سره جګ کړو چي په هغه کي اسمٰعیل هم وۀ باقي نفروته یې وویل، هر ۲ ساعته وروسته دوه نفره باسو که نه وشوبیاسباشپه مو باسوا سمٰعیل سره له ملګروپه ډېرمهارت دکستم له ځای څخه چي بعضي افسران هم ورسره مېل وۀ راوېې ایستل اسمٰعیل اوملګري چي دجانان دکوټې ادرس ورسره وۀ په یوه ټکسي کي دجانان کوټې ته ورغلو دشپې ۴:۰۰ بجې وې چي دجانان دکوټې دروازه ټک ټک شوه ټول خلك په خوارږه خوب ویدۀ وۀ جانان له اندېوالانو څخه یوۀ نفرڑغ کړڅوك یاستئ؟ اسمٰعیل وویل، مسافریودجانان اطاق خوبه همدغه وي سمدلاسه دروازه خلاصه کړه له پوښتني وروسته ، شپه ډېره تېره ده ډوډئ خوبه موخوړلې وي اوس استراحت وکړئ سهارکه خیروۀ غږېزوبه له یوې خوااسمٰعیل دجانان لیدوته ډېره تلوسه وه اوله بلې خوادوه شپې بې خوبه تېري کړي وې لیږ خنډوروسته اسمٰعیل سخت ویده شوی وۀ سهارلمانځه ته چي کوټئ وال جګ شوۀ جانان ته دکوټې اندېوال وویل، زېری مي دربانديي کلیوال دي راغلی جانان حیران شوزماکلیوال څوك ده ؟ دهغه اطاق دروازه یې ورخلاصه کړه چي اسمٰعیل اوملګري پکښي پراته وۀ داسمٰعیل په لیدوډېر خوشحاله شواوهو، داخوارښتیاراغلی اسمٰعیل دی وخت دلمانځه وۀ اسمٰعیل یې پورته کړپه غېږ یې پوښتنه ورسره وکړه ترډېرو

یې په غبرګې سره نیولي وه دچای خوړلو په سرېږ اسمٰعیل ټولو ملګروته معرفي کړ هغه ورځ جانان هم کارته نه ولاړ ټوله ورځ یې داسمٰعیل سره تېره کړه اسمٰعیل دکلي ، کوراولاري قیصې کولې جانان ددوبۍ قیصې کولې هغه فته یې له جېبه راوکیښله چې کمال اکاورکړې وه جانان فته ټیپ ته ورواچوله رښتیاهم چې کمال اکاداسمٰعیل په حق کي جانان ته ډېري خبري کړي وې اسمعیل وویل جانانه! دموربه مي ډېره اندېښنه وي څوك به وطن ته نه ځي؟ چي احوال ولېږم جانانه، دغه دوبۍ ده چي ویي وینې ته به وایې چي نیم افغانستان راغلی هره ورځ خلك ځي اوراځي بېغمه اوسه درته پیدابه یې کړم دشپې ډوډۍ وروسته جانان داسمٰعیل اندېوالي دملګروسره خبره پخه کړه اسمٰعیل دجانان دغو اندېوال شو د کوټې په هغه غټ اطاق کشي چي دوی به پکشي ډوډۍ خوړله یودانه ټلویزیون هم وه چي اسمٰعیل به ډېرکاته ځکه چي اسمعیل چېري نه وه لیدلی دریمه شپه د ماخستن له ډوډۍ خوړلووروسته رسمي خبري چي ټولواورېدې دټلویزیون په پرده داسمٰعیل هغه ملګري چي په سمندري جهازکي پاته وه ښکاره کړه چي لاسونوته یې اولچك (کړی) لوېدلي اومخ ته یې دهیروینوخلتې وې اسمٰعیل ډېر وارخطاشو دغه نفریې ولي نیولي دي ددوی بعضي اندېوالان په عربي ژبه ښه پوهېدل دوی وویل! دغه نفرافغانان دي سره له (۲۰) کیلوهیروینونیول شویدي اودعمرپه قید محکوم شول نوره پېښه ترتعقیب لاندي دی اسمٰعیل له ځانه سره وویل! څومره دخدای فضل راباندي وشوطبعیت یې ډېرخراب شوخاموش ناست وه ملګرویې ټوکي پرې وهلې غوري وکړه طبعیت دي خراب ده کوردي یادېږي زمونږ ۳ کاله وتلي ستاپه ۳ ورځوکي چرت خراب شو اسمٰعیل وویل نه نه! چرت مي ندی خراب کله چي یې دآرام

لپاره بستري ورواچولې جانان ته يې پټ په غوږکې ووېل! هغه نفرچې په ټلويزيون کې ښکاره کړوزموږ ملګري وه مګرهغه هيروئين ددوی نه وه سخت ظلم ورسره وشو خدايه! خيرپېښ کړې چې موږته کوم تاوان نشي پېښ . جانان ووېل! خيراحوال مه وايه کوټې وال دې بيانه پرېږدې خدای به خيرپېښ کړي يودوه ورځې نورهم کارته مه ځه ځان په مريضې واچوه اسمٰعيل دوه ورځې نورهم په اطاق کې معطل شو ملګرو ورته دډاکتراودرملونو کاوه مګراسمٰعيل به ويل جانان يې راوړي ۲ ورځې وروسته جانان ماښام دډېرخوشحال اطاق ته راغی له سلامه وروسته يې ووېل! زيری مې درباندې کارمې درته پيداکړسبابه که خيروه ګډ کارته ځوزماعرب راته ووېل يو بل نفرهم درسره راوله اسمٰعيل يوځای دجانان سره کارته ولاړاسمٰعيل په کارکې ډېرتکړه وه داسمٰعيل کاردعرب ډېرخوښ وه څوورځې سهارکارته تلو ماښام بېرته راتلوجانان ته شك پيداشوکه دعرب يونفرته ضرورت شوهسې نه چې ماته ځواب راکړي اسمٰعيل ته به يې ډېرويل دومره زورپه ځان مه راوله عرب ده والله که شاه باشي درکړي همدغه شك يوه ورځ صحيح وخوت عرب جانان ته ووېل! مايونفرپه کارده ته به ولاړشې اواسمٰعيل ته يې ووېل! چې ته به پاته شې کله چې مې بل نفرپه کارشي اسمٰعيل ته به خبرورکړم جانان طبعيت خراب شو اسمٰعيل عرب ته ووېل! موږدواړه يوځای کارکوه که جانان نه وي زه هم کارنه کوم داسمٰعيل ښه اخلاق ، ښه کاراوښې تقوی عرب جلب کړی وه ووېل! صحيح ده دواړه کارکوئ زه به يوبل نفرله کاره لري کړم جانان ته داسمٰعيل غيرت ډېرخوندورکړوماښام دواړه ليږوختې کوټې ته ولاړوپه کوټه کې يې يو نابلده نفرناست وه چې ددوی دملګروکليوال وه سلام يې ورواچاوه پوښتنه يې ورسره وکړه چای

جوش یې د ګېس په ډبه کېښود چې دوی هم چای نۀ وۀ خوړلی مېلمه ځان ورته معرفي کړزۀ عجب ګل نومېږم ستاسي د کوټېوال ګل محمد کلیوال یم سبانۀ بل سبا کورته ځم که احوال راکوی رایې کړئ په دغه خبره اسمٰعیل ډېر خوشحاله شو مېلمه ته یي وویل: زما احوال به نه یوسې؟ چي راغلی یم احوال مي ندی لېږلی دموربه مي ډېره اندېښنه وي مګر کورمي ستاسي له کلي څخه ډېرلیري دی عجب ګل وویل: که خیروۀ انشاءالله کورته به یي ورورم جانان او اسمٰعیل په دواړو سره یوه فته ډکه کړه (۱۰) درهمه یي د مور لپاره ورکړۀ جانان هم (۱۰) درهمه د کمال اکالپاره ورکړۀ ګل محمد عجب ګل ته وویل: ګوره فته به په لاس کورته ورورې د اسمٰعیل ښو اخلاقو څخه ټول کوټېوال خوشحاله دي ډېر احترام ورته کوي، کمال اکاد BBC راډیو څخه شپږ نفره افغانانو خبره اورېدلې وه چي د ایران له لاري دوبۍ ته په قاچاقي لار راتلو سره له هیروینو نیولي دي ځکه ډېر پرېشانه وۀ خدای مکړه اسمٰعیل نۀ وي بیابه یي وویل: اسمٰعیل دغو به هیروئین څه کوي رنګارنګ سوچونه ورسره وۀ هلته زرغونې اګو دغم شپې اوورځي تېرولې دورځي ۱۰:۰۰ بجې وې چي د کلي په منځ کي په سرۀ موټرسایکل سپور یو ځوان یو بریك ونیو د پټکي مول یې خلاص کړ سپیني جامې یي اغوستې وې سلام یې واچاوۀ د اسمٰعیل د کور پوښتنه یي کوله له ستړي مشي څخه وروسته مي ورته وویل: خیرت ده؟ د اسمٰعیل احوال مي راوړی هغه په خیرت دوبۍ ته راورسېدۀ ویل یې: چي فته به مي مورته په لاس ورکوې ښه ډېره ښه، د اسمٰعیل تر کورراتېر شوی یې راځه له ماسره موټرسایکل و ګرځوه راځه په موټرسایکل سپور شه دواړه په موټرسایکل سپارۀ شوۀ د اسمٰعیل دروازې ته ودرېدلو چي دروازې ته یي غټ قلف پروت وۀ یوماشوم راته

وویل! زرغونه اګو قبرستان ته ولاړه ویل یې چې نن جمعه ده ببرته دواړه په موټرسایکل سپاره او د قبرستان په خوا ولاړو تر قبرستان کوچنۍ دېوال ګرځېدلی وۀ موټر سایکل مو د دیوال شاته ودراوۀ زرغونه اګو د شهیدانو قبرو ته ناسته وه موړته یې شا وه ډېر په زوره زوره په ژړا کې یې ویلو! خدایه مړه وي . ژوندی به وي هیڅ احوال یې نه راځي غږمې پرې وکړو زرغونې اګو زېری مې درباندې دغه سړي ستا د زوی فته راوړې او ښکې یې د کمیس په لستوڼي پاکې کړې اوله دواړو سره یې پوښتنه وکړه عجب ګل له جېبه فته راوکیښله دغه فته د اسمٰعیل او جانان ګډه فته ده زرغونې اګو وویل! شکر خدایه چې له جانان سره یو ځای شوی مسافر جېب ته لاس کړ (۱۰) درهمه چې (۱۵۰) روپۍ کېږې ستالپاره او (۱۰) درهمه د کمال اکالپاره جانان راکړې زرغونې اګو عجب ګل ته وویل! زویه زړۀ مي په قرار شو عجب ګل ته یې ډېرې دعاوې وکړې عجب ګل ښه تسلي ورکړه زۀ په ۳ میاشتې رخصتې راغلی یم چې ځم احوال به دې یوسم زویه! ځه چې ځو چای او ډوډۍ وخورو عجب ګل وویل! نه مورې کله چې ځم بیابه چای او ډوډۍ وخورم زرغونه اګو په ډېره مننه د کمال اکا کره ولاړه د دروازې رسېدو ته یې په ډېر لوړ آواز وویل! جانبختې ټیپ راواخله د اسمٰعیل او جانان ګډه فته راغلې نخشه یې هم راغلې د کمال اکا ټوله کورنۍ مخته راووتله چاراوړې وه زرغونې اګو وویل! نه مې پېژانده ټیپ راواخله چې د اسمٰعیل غږ واورم د ټیپ په رسېدو سره کمال اکا هم راورسېدۀ ټول په ګډه سره فتې ته کښېناستل فته یې چالانه کړه اول اسمٰعیل غږېدا شروع کړه:

السلام علیکم.....! زۀ اسمٰعیل یم لومړی سلام ګرانې او مهربانې مورته وایم زۀ په خیرت دوبۍ ته راورسېدم اوس الې له جانان او (۱۰)

نفره نوروکوټیوالو سره ډېر خوشحاله یم زۀ اوجانان دواړه کارته ګډ ځوعرب بدسړی نۀ هغه سهار د لمانځه په وخت چې په مسله ویده وم اوخوب مي لیده هغه رښتیاشو زۀ او جانان ګډ کارته ځو (۱۰) درهمه مي ورکړي ستالپاره تاته مي ډېره اندېښنه ده احوال به رالېږي عجب ګل ته مي وویل: چي واپس راځې احوال به یې راوړې فته به ورته ډکوې دخپل ځان به ډېرخیال ساتې زماطرف ته کوم فکرمکوه زۀ ډېر خوشحاله یم کمال اکااوټول کورته مي هم سلامونه ورسېږي بیا جانان غږېدا شروع کړه هغۀ هم سلامونه ویلي وۀ داسمٰعیل په حیصه کي ښه تسلي ورکړه زرغونې اګونخښه ورکړه دغه زماروپۍ کمال اکادرواخله نوري روپۍ به هم درکړم دولسوالی له بازاره به ټیپ راوړې کله کله به داسمٰعیل فته غږوم یابه یې ورته ډکوم ، اوس دزرغونې اګولیږدۀ ده ولګېده دکمال اکاله کوره راووتله خومره لېونی زوی مي وۀ اخبرېې خپله رښتګه ترسره کړه خدای دې دزړه ټول ارمانونه پوره کړي کله چي زرغونه اګوکورته ورسېده لیږ ځنډوروسته یوه سپین سرې سوالګره کوچۍ په دروازه کي ژغ کړ دالله په نوم څۀ راکړئ.زرغونه اګوله چوترې راکشته شوه ورته وې ویل: راځه دننې دواړه په اچولي پزي کشېناستلې دکوچۍ سره کوچنی پنډوکی هم وۀ چي پکښي خوساوزه ، مرخېړوزاولي سونګوری ، توره اریړه ،کوری اوکنډوۀ زرغونې اګوخپل دسرټیکری ورکړچي زوی یې له ایران څخه ورته رالېږلی وۀکوچۍ ته یې وویل: دغه مي وعده کړې وه که مي دزوی احوال راغی دسرټیکری به دخدای په نوم ورکوم کوچۍ ډېره خوشحاله شوه دزرغونې اګوزوی ته یې ډېري دعاوي وکړې چي زرغونې اګوبه آمین وایو وروسته زرغونې اګوپه یوۀ چای جوش کي تورچای راوړزرغونې اګوته به داسمٰعیل ډېري

خبري مخته راتلې ستالپاره به په دغه کورکي خدمتګاره وي تهٔ به دور
ورو ماشومانو سره ناسته يې دچاى په سريې کوچې ته وويل! ته خو ډېر
ګرځې هرکورته ورځې يو کارخوراته وکړه که دي ښه پېغله ترنظرشو
احوال به راکوې چي زهٔ زوى ته کوژده کوم کوچې ورسره ښه کړه خداى
په اماني واخيسته کمال اکاپه ښاد ولسوالى دبازارڅخه زرغونې اګوته
ټيپ راوړى وهٔ چي زرغونه اګوډېره پرې خوشحاله وه کله چي به دکورله
کاروخلاصه شوه داسمٰعيل فته به يې غږوله شپې اوورځې تېرېدلې يوه
ورځ عجب ګل ديوهٔ بل ملګري سره دزرغونې اګودکور مخته
موټرسايکل ودراوهٔ دروازه يې ټک ټک کړه زرغونه اګودعجب ګل په
ليدو ډېره خوشحاله شوه له پوښتني وروسته يې دچاى اوډوډۍ
خوړلوننګ وکړ ،نه! زرغونې اګوزه ۳ ورځې وروسته ځم فته به ډکه کړه
کمال اکاته هم احوال ورکړه چي دجانان لپاره احوال راکړي زرغونې
اګووويل! پخپله وعده خوولاړيې ويلي دي وهٔ چي ډوډۍ به دي خورم
عجب ګل وويل! بالکل سبانهٔ بله ورځ راځم دغرمې ډوډۍ به همدلته وي
اوس اجازه راکړه چي ډېرخلك راته پاته دي چي خبرورکړم زرغونې
اګوخداى په اماني ورکړه ، وروسته يې بياپسي ژغ کړ ملګرى دي هم
راوله زرغونه اګودفتې په ډکېدانه پوهېده دشپې په مخه سره له ټيپه
دکمال اکاکورته ولاړه چي اسمٰعيل ته فته ډکه کړي دعجب ګل له راتګه
يې دکمال اکاکورهم خبرکړ دواړوپه ګډه سره يوه فته ډکه کړه زرغونې
اګوچي کله په غږېداشروع وکړه ډېربه يې ژړل جانبختي به خپل زوى
صدوته وويل! فته بېرته له سره کړه زرغونې اګوزوى دي مسافرده ښه
دخوشحالي فته ورته ډکه کړه صدوفته ځوځوواري له سره کړه
اخېرزرغونې اګوځان ښه سمبال کړاوپه غږېدايي شروع وکړه زويه! زهٔ

دي مور يم سلامونه درته وايم زۀ ښېخي ښه يم ماته اندېښنه مکوه په فته کي دي ويلي وۀ چي تاته مي اندېښنه ده زه ښېخي ښه يم ټيکری ، خط او روپۍ دي راورسېدلې اوس مي ډېره ولګېده دکمال اکاپه کورکي هم خيرت دی زويه! ستاغړمي ډېرتر غوړوکېږي چي تابه ويل ستالپاره به په دغه کورکشي خدمتګاره وي تۀ به له وړو وړو ماشومانوسره ناسته يې زويه اوس دي دکوژدې په فکرکي يم پوښتنه کوم چي ښه پېغله پيدا کړم احوال به درولېږم په فته کي نشم غږېدلای دامي اول واردی په خدای دي سپارم جانان ته يي هم سلامونه وويل دکوراطمينان يې ورکړله اسمٰعيل سره به پام کړې ، دکمال اکا ټوله کورنۍ په فته کي وغږېدله فته يي په يوه سپين ټوکرکي وګنډله زرغونې اګو په جېب کي واچوله زرغونې اګوجانبختي ته وويل! رښتيا عجب ګل سبانۀ بل سبا کورته راځي دغرمې د ډوډۍ يې له ماسره قول کړی تاسي دواړه به هم راځئ کمال اکاوويل! خيردی الي به ډوډۍ تياره کړو زرغونې اګووويل! نه خيراوسې وې ويل چي سهاروختي به راشئ کمال اکاتۀ به چرګ راحلال کړې جانبخته به دکورکار راسره وکړي دواړو ومنله دغه ډوډۍ ته زرغونې اګوزه هم وربللی وم دورځي ۱۱:۰۰ بجې وې چي عجب ګل سره له ملګري راورسېده زۀ اوکمال اکادواړه يوځای په دروازه کي انتظارولاړوۀ له پوښتني وروسته کمال اکاورته وويل! راځئ بچوچي کورته ځوزرغونې اګوهم پوښتنه ورسره وکړه عجب ګل ورته وويل! اول ډوډۍ راواخله چي مور ډېره منده يوسباکه خيروۀ ځم فتې اوخطونه راټولوم خدای شته چي ډېره ښه ډوډۍ يې تياره کړې وه دکمال اکاله کوره يي شړومبی هم راوړی وۀ دډوډۍ په سرباندي کمال اکا عجب ګل ته زرغونې اګو ورمعرفي کړ دغه د جانان پلار دی عجب ګل وويل! ښه

ده چي ومي ليد جانان به بياويل چي ندي دی ليدلی عجب ګل داسمٰعيل اوجانان ډېرتعريف کاوۀ زرغونې اګوپه سپين څوکرکي فته ماته ونيوله زمادکمال اکا، اسمٰعيل اوجانان نوم پرې وليکه له ادرسه وروسته مي فته عجب ګل ته ورکړه اسمٰعيل زماهم ملګری وۀ يوځانګړی کوچنی خط مي ورته وليکو عجب ګل ته مي ورکړعجب ګل اوملګری يي ولاړ زۀ او کمال اکادواړه دمسجد په خوا ولاړو لمانځه ته لاډېروخت وۀ دمسجد د پتاوي ديوال ته کشيناستو کمال اکادرزغونې اګواواسمٰعيل قيصې کولې چي هره يوه خبره يي زماپه زړۀ نويشته کېدله بېګه زرغونې اګوزمورکورته يو کوچنی چرګوړی راليږلی وۀ چي هغه زمادکوچني زوی نجيب الله لپاره وۀ ويل يې! چي دوه ځله داسمٰعيل احوال چي کوم مسافرراوړی وۀ زمورکورته يي راوست چي دغه وړوکی چرګوړی ددۀ دزوی لپاره ده زۀ چي کورته راغلم نجيب الله زوی مي ډېرپه چرګوړي خوشحاله وۀ اوڅنګ کي يي نيولی وۀ زرغونې اګوچرګوړی راکړاوس مي ډوډۍ هم ورواچوله ترهغه وخته چرګوړی ورسره وۀ ترڅوچي خوب ورغی چرګوړی مو آتش خانې ته ويوست،(۵)
ورځي بعدعجب ګل دوبي ته ورسېدۀ دشپې يي داسمٰعيل دغوکوټې ته ټيليفون وکړزۀ په خيرت راورسېدم د ټولواحوال مي راوړی داسمٰعيل اوجانان فته مي هم راوړېده دډوډۍ خوړولو ورسته ټول کوټۍ وال عجب ګل ته ورغلوعجب ګل اسمٰعيل ته په پوښتنه کي وويل! ګوره بېوفانه يم کورته مي دي فته وروړه اوس مي هم فته راوړې موردې ډېره ښۀ ډوډۍ کړې وه کمال اکاهم وۀ زمانوم يې هم ورته واخيست بختووه موردي ژوندی ده ډېرې دعاوي يي درته کولې زموږمورخومړه ده دجوړپخير وروسته يي دبکس چين خلاص کړزماخط اودمورفته يي ورته ونيوله

دغه فته ستا او دجانان ګډه ده کمال اکا دغو هم پکښي غږېدلي اسمٰعیل دمور غږته ډېر تلوار وۀ نور مجلس ته یي دومره فکر نه وۀ کوټۍ والو سره له شرمه ناست وۀ څوځله یي جانان ته په غوږ کي وویل! څه چي څواجازه واخله دشپې ۱۱:۰۰ بجې وې چي دعجب ګل له کوټې څخه ووتل کله چي خپلي کوټې ته ورسېدل ژر یي ټیپ راواخیست فته یي خلاصه کړه دمور په غږیې سترګي له اوښکو راډکي شوې د شپې تر ۳:۰۰ بجو یي څوځله وغږوله، کوټۍ والو به له اسمٰعیل څخه پوښتنه کوله په فته کي یې خیرت ویلی هو! خیر اوسۍ خیرت یې ویلی جانان به لیږ په خندا غوندي شو موریې په کوژده پسي ګرځي غږبه یي که خیروۀ واورۍ اسمٰعیل چي دښو اخلاقو خښتن وۀ هرکوټۍ وال یې دغه کوشش کاوۀ چي اسمٰعیل ته قانوني پاسپورت اوویزا جوړه کړي څلور میاشتي وروسته کوټۍ وال کامیاب شوۀ چي اسمٰعیل او جانان ته قانوني پاسپورټونه اوویزاوي جوړي کړي اوس اسمٰعیل او جانان ډېر خوشحاله وۀ ټول مسافر دښو ورونو په شان اوسېدل یو کال بعد جانان د اسمٰعیل په مشوره دکور پروګرام جوړ کړ هغه عرب چي دوی ورته کفیل وایه د ۳ میاشتو رخصتي واخیسته په پاسپورت کي ورته مهر وواهۀ (۳۰۰) درهمه یي ترې یووړه ، اسمٰعیل دکور لپاره ډېرشی اخیستی وۀ (۵۰۰) درهم یې ورکړه اویوه دانه فته یي هم ورته ډکه کړې وه ، په فته کي شرمېدم دکوژدې مي ندي ورته ویلي (۵۰۰۰۰) روپۍ دزمري اکاد څمکي پاته وې (۵۰۰۰) درهم چي (۷۵۰۰۰) روپۍ کېږي په دغه به کوژده راته کوۍ ګورۍ دژوند مسئله ده چي ښه ځای وي پخپله به ډېر کوشش کوې نور خدای مهربانه ده نوري روپۍ چي زه ځم له ځان سره به یي یوسم اوس لاس راته بند کړۍ کالي مي ډېر درته اخیستي مورمي

بازارته نشي تلای که کوم شی یې په کاروۀ ورته راوړې به یې جانان وویل: ښېغمه اوسه کوټیوالویي هم نخښې اوفتې برابرې کړې وې سبانۀ بل سباد جانان دهوايي جهازټکټ کراچی ته وۀ اسمعیل ترهوايي میدان ورسره وۀ څوڅو ځله به یې ویل پرموربه مې ډېرپام کوې جانان دننه میدان ته لاړ اسمعیل دباندې ترهغوولاړوۀ چې جهازپه هواشو په ۱ ګنټه او ۲۴ دقیقې کې جهازدکراچی په هوایي میدان کوزشو دجانان پاسپورت افغانی وۀ پاکستان ته دتلو ویزاهم پکښې وه مګردمیدان هوایي افسرانوافغانان ډېرتنګول اوبده روئیه یې ورسره کوله په یو بهانه په بله بهانه به یې روپۍ ځیني وړې افغانانودخپلودربدریوله لاسه هیڅ چاد دوی غږنه اورېده اونۀ یې چاپوښتنه کوله جانان په ډېرتکلیف اوپه ډېرخرخ له هوایي میدان څخه ووت دټکسي کرایه له هوایي میدان څخه تر لیمارکېټ پورې (۷۰) کلدارې وه له افغانانوڅخه به یې (۵۰۰) کلدارې وړې دا به یې ورته ویل: پرلارې دې پولیس په عذاب کوي زۀ دې په ذمه وارې وړم پاسپورت ویزا هرشی صحیح وۀ مګربیابه یې هم په لارې تکلیف کاوۀ ډریوربه کوشش کاوۀ چې پولیس لاس ورنکړې که به یې ورکړه (۱۰۰) روپۍ خبره خلاصه وه باقي (۴۰۰) روپۍ ډریورپه جېب کې اچولې دلیمارکېټ اکثره افغانان په دغه مسافرخانوکې وۀ چې دغه مسافرخانې دپاکستاني پښتنووې ددوی رویه بده نه وه مګر نرخ یې ترنورومسافرخانوجګ وۀ جانان دورځې په لیمارکېټ کې چې دیوڅو افغانانودکانونه وۀ دکوراوداسمعیل دکورلپاره رختونه واخیستل دکویټې ښاردبس ټکټ یې دماښام راخیستی وۀ درهم یې هم په دغه افغانانو کلدارې کړل ماښام یې دمسافرخانې حساب خلاص کړخپله بستره یې دبس سرته جګه کړه ماښام ۰۰ : ۲ بجې وې بس حرکت

وکړسهاروختي کويټې ښارته ورسېدو چمن په بس کي افغانان هم وۀ چي دجانان ملګري شوۀ کورته تلو دکويټې څخه يي دچمن په لورحرکت وکړدوی خپل ۸ نفره شوۀ په هغه واړۀ فلانکوچ کي کشېناستل چي ۱۲نفره يي ځايول ۴نفره نور وروختل فلانکوچ حرکت وکړ چمن ته په رسېدو سره يي خپل پنډوکي له فلانکوچ څخه راکوزکړو چي نېغ ورته دچونګي وال ودرېدۀ دچونګي پرچۍ راکړئ جانان اوملګرويي وويل! دخوټول د کورسامان ده کوم تجارتي مال خوندی چونګي وال نه منله اوس به يي يوپه لس راکوئ او که چونګي ته واپس ګرځئ هم خوښه موخپله ده نوردلايل مه واياستئ له ډېر منت اوزاريو وروسته يو په پنځه پرچۍ ورکړه په لاسي کراچۍ کي يي خپلي بسترې واچولې دباډرپه خوراوان شو پاکستاني ملېشه اوفوځيان ولاړ وه ددوی په ليدو ډېرخوشحاله شوۀ يوبل ته يي غږکړښکار پيداشو دهوادمرغانو غوندي وربانـدي راټـول شـول ټولـود پنډوکورسئ کښ کـولې ډالـردي راوړي اوکنه؟ په پنډوکي کي قاچاق دي غيرقانوني ياستی يوې خواته شئ ، ځئ بنديخانې ته ، يوۀ طرف ته يي ودرول يونفرددوی له ډلي ورته وويل! زۀ به موورسره جوړکړم کنه وۀ بنديانوي مو ،بېچاره افغانانوويل صحيح دی! نفرولاړواپيس يې وويل دهرنفرپه سر( ۱۵۰۰) کلداري راکړئ له ډېرکښ اوګيرنه وروسته په يوۀ نفر( ۵۰۰) کلداري جوړشوۀ روپۍ مو ورکړې ترباډرتېرشوۀ هغه هوټل ته ولاړو چي ددوی دبازار ډاټسن يکشي درېدله هوټلي ډېرخوشحاله شوشاګردانوبسترې ورسره دننه کړې جانان پوښتنه وکړه ډاټسن راغلې؟ راځئ مانښام ته! ډېرسترې وۀ دوډۍ اوچای خوړلووروسته چا استراحت وکړ ، څوك بازارته ولاړومانښام هغه شين رنګې ډاټسن دهوټل مخته راغله هوټلي له سترې مشي وويل!

راځه سپارلي تياره ده جانان او ډريورسره پېژندل په جانان يې سترګې ولګېدې اوهو! داخو جانان راغلی دېدوبۍ مسافردی اوس به يې سوغات هم نه وي راوړی له پوښتني وروسته جانان جيب ته لاس کړ ډېرښکلی سګرېټ ليتړيې ورته ونيو ډريور ډېر په مينه ورواخيست کوردي ودان شه دشپې يې داسمٰعيل پوښتنه هم ورڅخه وکړه تر ډېرويې قيصې کولې ډريورجګ شو زۀ دموټرپه سيټ کي پرېوزم که خيروۀ سهاروختي به ځو ،سهاروختي موټر حرکت وکړ جانان دمخي په سيټ کي کښېناست نورمسافرڅوك سيټ څوك باډۍ ته وختلو په لاري ډريورډېرسګرېټ څکولو کله کله به دډريوردطبعيت لپاره جانان هم يونيم کښ سګرېټ ته ورکاوۀ دشپې لخواهماغه کوچني هوټل ته ورغلو چي دلاري په سرجوړوۀ شپه تېره شوه سهاروختي موټربياحرکت وکړ ۴:۰۰ بجې دمازديګرويې موټردوی کوچني بازار ته ورسېدۀ دهوټل مخته ودرېدۀ مسافرتي کشته شوۀ ټولوخپلي خپلي کرايې ورکړې دجانان پنډوکی دروندوۀ له ډريورسره يې ترکوره کړي وۀ موټردجانان دغوکلي په خواحرکت وکړدزرغونې اکوکوردجانان دکوردمخه وۀ زرغونه اکو دخپل کورپه دروازه کي ناسته وه جانان ډريورته وويل! الي يو بريك شه جانان ورکوزشوزرغونې اکوسره يې پوښتنه وکړه مګرزرغونې اکو نه وپيژاندۀ ورته وې ويل! لکه چي نه مي پېژنې جانان يم . زرغونې اکودواړه لاسونه ترې تاو کړو (۱۰۰) واري ستړی مشي اسمٰعيل احوال خوبه دي ښۀ راوړی وي جانان وويل! هرشي مي ډېرراوړي راځه موټرته وخيژه زرغونې اکوو ويل! تۀ درځه زه دروازه بندوم پسي درغلم دکلي ماشومانو دجانان دکورپه خوادزېري لپاره منډې وهلې کمال اکاټوله کورنۍ ددروازې په خولۀ کشي ولاړه وه يوځۀ کليوال هم راورسېدل له

ستړي مشي وروسته ټول دکمال اکاکورته ننوتل هریوهٔ کلیوال به ویل! سترګي دي روښانه ، جانان دچاى خوړلووروسته ډریورته ترکلي پوري (۲۰۰) روپۍ زیاتي ورکړې مګرډریورشونډي پرې وځړېدلې ویل یې زړی خو راکړه! کمال اکاجېب ته لاس کړ (۱۰۰) روپۍ یې نوري ورکړې دشپې ست (ننګ) یې ورته وکړډریور وویل نا! څم کوم مسافربه هوټل ته راغلي وي زرغونه اګوهم راورسېده جانبختي ته یې وویل! سترګي دي روښانه جانان خوراغی جانبختي وویل خیراوسې زرغونې اګوهغه شپه دکمال اکاپه کورکي پاته شوه جانان ورته وویل! نوراحوال یې ټول په فته کي ویلی دی یوازي یوه خبره یې په خولهٔ راته کړې په فته کي شرمېدهٔ (۵۰۰۰) درهمه یې راکړي ویل یې! چي (۵۰۰۰۰) روپۍ په ژمري اکادي په دغه روپو به چېري ښهٔ ځاى پیداکوی کوژده به راته کوئ کمال اکاوویل! موږبه ټول له نن څخه ایسته پوښتنه کوهٔ کمال اکاوویل! د ژمري روپۍ خوله ماسره دي دغه نوري روپۍ به هم زهٔ کېږدم زرغونې کوردي یوازي دی کله چي اسمٰعیل ته کوژده وکړوغوټه به یې ورکړو زرغونې اګوهم ورسره ومنله له ډېره څنډه وروسته جانان اوکمال اکا خپلواطاقو ته ولاړو ، نورپه دغه اطاق کي پاتي شول ترډېره وخته یې داسمٰعیل فته غږوله سهارله چاى خوړلو وروسته زهٔ هم دجانان پوښتني ته ورغلم له جانان څخه مي دنورو ټولو افغانانو د دوبۍ احوال واخیست وروسته جانان جګ شولېږڅنډه وروسته بېرته اطاق ته راغی یودانه ډېرښهٔ قلم یې په لاس کي راته ونیوهٔ دغه ستالپاره اسمٰعیل راکړی ستاخط ورته ورسېدهٔ اسمٰعیل ډېرسلام درته ویلو چي مورته مي خط ورلیکه چي موږته یې رالېږي یوه ډله کلیوال نورراغلوزهٔ ځیني رخصت شوم ورڅه ومي ویل! چي نوري خبري به په قراره کوهٔ ۳ ، ۴ ورځي

وروسته داسمعیل له روپو اودکوژدي له ګنګوسې خلك خبرشوۀ هغه کوچۍ ته چي زرغونې اګودښې پېغلي دپیدا کېدو ویلي وۀ هغه کوچۍ نن ورځ دزرغونې اګوکره راغلې وه دبرکلي دشاه محمود لورېې په ګوتوورکړه ډېرصفت یې ورته وکړو زرغونې اګو وویل! کوردې ودان شه که مي زوی ته وکړه ډېره به دي خوشحاله کړم دغه خبره به زۀ کمال اکاته وکړم زۀ اوجانبخته به یي پخپله هم وینو کوچۍ ډوډۍ اوچائ وخوړل وروسته دزرغونې اګوله کوره ولاړه ، ورځ تېره شوه دشپې ۳:۰۰ بجې وې زرغونه اګو په خوارۀ خوب ویده وه چي ۳ مسلح غلۀ یي کورته وراوښتي وۀ په زرغونې اګو یې کلاشینکوف ونیو ، دزوی روپۍ چي دې راغلې کوم ځای دي؟ راښایه یي ، زرغونه اګووحم اخیستې وه ویل یې! الې روپۍ نشته دکلاشینکوف په کوندو یې ووهله ټول کورېې ویلټلو چي څۀ یي پیدانکړو یونفروویل! راځئ چي مړه یې کړو بل وویل! داخواوس خزانه ده یووخت خوبه یې خامخاپیداکړوزوی یې په دوبۍ کي ده زرغونې اګو پسي یې دباندي لخوادروازه ځنځیرکړه اوله کوره ووتلو ، زرغونې اګوترسهاره ډېرکوشش وکړچي ورېږځایه کړي لمرښه هسك راغلو زرغونه اګوکامیابه شوه اوورېې بېځایه کړداطاق څخه راووتله دکلادروازې قلف یې خلاص کړدباندي ووتله ددروازې په خولۀ کې ډېرپه جګ اوازناري وهلې غلۀ دي ! غلۀ دي! په میدان کي ناېست خلك چي زۀ اوجانان هم پکښې وۀ دزرغونې اګوکورته ورغلو زرغونه اګوډېره وارخطا وه دکلاشینکوفودکوندو نښانونه یې په لاس اوبدن باندي معلومیدل ټوله قیصه یې وکړه دروپوپوښتنه یې کوله چي دزوی دي روپۍ راغلې راوې ښیه ،نوردکورېې کوم شی ندی وړی په غه قیصه ټول کلی سخت خواشینی شوۀ اوس چي خدای پاك په

زرغونې اګوپورته کړه دغه ظالمان ګوره چې نه يې پرېږدي کمال اکااوجانان فيصله وکړه له دغه وروسته به صدود زرغونې اګوپه کورکې پرېوزي صدوبه هرماخستن دزرغونې اګوکورته له سلاح سره ورتلو ،زرغونې اګودکمال اکاله کورنۍ سره خبره شريکه کړه چې دبرکلي اوسېدونکي دشاه محمودلورېې ورته وښووله ، شاه محمودکمال اکاهم پېژاندۀ وې ويل؛ چې شاه محمودخوډېرښه سړی ده زماداسي خوښه ده زرغونې تۀ اود جانان مورورشي چې اطمينان موحاصل شي زۀ به هم ورشم سهار ۸:۰۰ بجې زرغونه اګواوجانبخته دشاه محمودکورته رهي شوې دکمال اکاهم زړۀ صبرور نکړاو پخپله هم پسي رهي شودشاه محمودکليوال تورګل دکمال اکاملګری وۀ دهغه کورته ورغی ښه وۀ تورګل يې په کورپيداکړ له ډوډۍ وروسته دشاه محمود دلور خبره يې ورياده کړه تورګل ډېرصفت ورته وکړ دغرمې وخت وۀ زرغونه اګواو جانبخته هم راووتلې په لاره يې ډېرصفت وکړپخپلوسترګومو وليده ډېره ښه پېغله وه خوښه مودی ، کمال اکاوويل؛ تورګل يې هم ډېرصفت راته وکړسبادي خدای خيرپېښ کړي ، په سباورځ ډېرکليوال دکلي په ميداني کي دباغچې ډډي ته ناست وۀ کمال اکاپټ په غوږکي راته وويل؛ په ماپسي راجګ شه کارمي درسره دی زۀ له کمال اکاپسي وروسته ولاړ شوم په لاري يې ټوله قيصه راته وکړه د شاه محمودکورته ځم که يې ددوستي خوښه وه ورسره کړو يې ، په خبروخبرو کې دشاه محمودکورته ورسيدو ، دروازه موټک ټک کړه کوچنی بچی يې راووت ورته مووويل؛ شاه محمودپه کوردی؟ وې ويل هو؛ زۀ به غږورته وکړم لږساعت وروسته شاه محمودراووت وې ويل؛ هوهوکمال اکاتۀ چېري ، نۀ له تا چې راغلی يې کمال اکاوويل؛ انشاءالله

که دي خدای رضا وه له دې وروسته به ډېر راځم کورته ننوتلو اول یې چای راوړ کمال اکا الیږ تلوار وکړ د دوستي خبره یې وریاده کړه شاه محمود وویل؛ دا خو د مشورې کار دی مشوره به پکښې وکړو زه به هم مشوره وکړم پوښتنه به مې وکړې کمال اکا وویل؛ زموږ ټولو خوښه ده موږ پرون ورځ هم راغلي وو ته کورته ولاړ شه خوښه وکړه ناامیده مو مه لېږه په دغو خبرو د شاه محمود مشر زوی هم راغی له موضوع څخه یې ځان خبر کړ وویل؛ هلك مو څه کاره دی او چېرې دی؟ کمال اکا وویل؛ په دوبۍ کې دی اسمٰعیل نوم لري ډېر ښه هلك دی د شاه محمود زوی اسمٰعیل پېژاندهٔ په رښتیا اسمٰعیل خو ډېر ښهٔ سړی وهٔ خیر موږ به یو ځل کورته ولاړ شو کورته ولاړو ، زهٔ او کمال اکا په مېلمه خانه کې پاته شوهٔ کمال اکا وویل؛ انشاءالله کار به وشي کورته یې راغلي یو ولور ډېر نه کېږدي؟ یو ساعت وروسته شاه محمود او زوی یې مېلمه خانې ته راغلو سلام یې پرې واچاوهٔ کمال اکا زموږ خو خوښه ده مګر تاسي به ښه پوښتنه کړې وه کمال اکا وویل؛ زموږ خوښه ده په خوښه راغلي یو صحیح ده ولور کې وغږېږه شاه محمود وویل؛ ولور خو په منطقه کې دی په دغه یوه میاشت کې درې کوژدې وشوې په (۳۵۰۰۰۰) روپۍ ده زهٔ خو هم له نرخه نه وځم دغه روپۍ دې وي ، کمال اکا وویل؛ لېږ مراعت مو وکړه له یو څهٔ خبرو وروسته شاه محمود ورته وویل؛ (۵۰۰۰۰) روپۍ دې پاته وي په (۳۰۰۰۰۰) روپۍ دعا وشوه د سبا خبره یې خلاصه کړه پنځه نفره سړي او دوه نفره ښځې راځو ، شاه محمود وویل؛ خیر کلي مولوی دی دوه نفره زیات راشئ یو کوچنی کوچنی رویمال یې راکړ کمال اکا (۱۰۰۰۰) روپۍ شاه محمود ته ورکړې له کوره راووتلو د کلي په خوا روان شوهٔ کمال اکا په لارې وویل؛ سبا چېرې ولاړ نشې راسره ځې به ، زرغونه

اګو اوجانبخته په انتظارناستي وې کمال اکا ژغ وکړ زرغونې اګو مبارك مبارك! کوژده موو کړه زرغونې اګو ويل !خدای دي دروغ او اوږد ژوند خاونده کړه ، کمال اکاد سبا ټول پروګرام ورته وويلو زرغونې سباکه خيروۀ تۀ اوجانبخته به هم راسره ځئ پنځه نفره نورمورږ يو په دعا کي به (۹۰۰۰۰) روپئ نوري ورواچوۀ ټول په دغه صلاح شوۀ ماهم مبارکي ورکړه جانان په ډېره ستړې ساه راغی ويل يې! له ډېره ليري مي وليداستئ کار وشو زرغونې اګووويل! جانانه زويه مبارکي درته وايم جانان ډېرژرله کوره ووت په تلوارېې کلاشينکوف راوړ(۱۰) پيرونه يې وکړو داسمٰعيل دکوژدې اوازه ډېر زر په کلي کي خپره شوه دکلي ښځي اونردزرغونې اګو په کورکي داخل شوۀ زرغونه اګو ډېره خوشحاله وه هلکانو دباندي ټيپ په ډېرجګ آوازخلاص کړی وۀ اتڼ يې اچولی وۀ ، په سباکمال اکا ، جانان ، ملاصاحب ، زۀ اومعلم صاحب حميدالله دشاه محمود کورته ورغلو زرغونه اګو اوجانبخته له مورږخخه ليږ مخکي تللي وې دشاه محمود يو څو تنه خپل کليوال هم راغلي وۀ ستړې مشي ټولو راسره وکړه دچای اوډوډۍ يې ډېرښۀ بندوبس کړی وۀ له هغه وروسته شاه محمود په ملاصاحب ژغ کړمخته راشه کمال اکاتۀ هم رامخته شه چي نکاح وتړوله نکاح وروسته کمال اکاشاه محمود ته (۹۰۰۰۰) روپئ ورکړې (۱۰۰۰۰) روپئ مي پرون درکړې وې چي ټوټل (۱۰۰۰۰۰) روپئ شوې او باقي (۲۰۰۰۰۰) روپئ پاته شوې ، ملاصاحب اومعلم صاحب په شاه محمود ژغ کړ زمورږهم مخ وکړه شاه محمودوويل ملاصاحب! ستاسي په مخ (۱۰۰۰۰) روپئ پاته دشاه محمودزوی اطاق ته راغی زمورږمخ ته يې يو يوله مېوې ډك رويمال کېښنود ملاصاحب دعاوکړه ټولو کمال اکاته مبارکي ورکړه له مېلمه خانې څخه

راووتلو دتوپانچې ۳ ډزونه مې وکړو زرغونه اګواوجانبخته هم راووتې زرغونې اګوته ټولو مبارکي ورکړه ټول کليوال دزرغونې اګودزوی په کوژده ډېرخوشحال وۀ ځکه يوځل بيادزرغونې اګوپه کورکې ډېره ګڼه ګوڼه شوه دشپې له مخې زرغونې اګودکلي ټولي پېغلي راوبللې شپه ټوله په ډېره خوشحالي تېره شوه زرغونه اګواوس په دې چکرکې شوه چې زوی خبرکړم يوه ورځ ماسپښين زرغونه اګوزمونږ کورته راغله اوراته وې ويل! په جانان مې زړۀ نښوای ورکړای شپې يې ليږدې يوکارراته وکړه ډېره دعاګوی به دې يم کابل ته ولاړشه زوی ته مې دکوژدې خبرورکړه خلک وايي چې په کابل داسې شی شته چې له اسمٰعيل سره وغږېږې نوم يې ندی راته معلوم ،ماورته وويل! زرغونې اګو خامخابه ولاړشم هغه ټيليفون بولي له جانان سره به يې نمبروي زۀ به جانان ووينم سهارکه خيروۀ لاړبه شم دټيکري له پيځې يې روپئ راخلاصي کړې زويه دغه خرڅ درواخله له جانان مې دټيليفون نمبرواخيست سباکابل ته ولاړم په ټيليفون کې پخپله داسمٰعيل سره وغږېدم اول ډېروارخطاشوخيرت خوبه وي مورخوبه مې نۀ وي مړه؟ ماورته وويل! نا، زېرى مې درباندې دبرکلي دشاه محمودلورمودرته وکړه موردې راولېږلم چې خبردرکړم ټول بيان مې ورته وکړ دقلم مې هم ورته وويل چې راته ورسېدډېرېږې خوشحال شوم په ټيليفون کې يې وويل! هرشی چې دې پکاروي احوال رالېږه مورته مې ډېرسلام وايه داسمٰعيل کوټيوالو داسمٰعيل په کوژده ډېرښه مجلس جوړکړی و اسمٰعيل دډوډۍ بندوبس هم کړی وۀ، زرغونې اګوته مې تسلي ورکړه داسمٰعيل سلامونه مې ورته وويل ډېره خوشحاله شوه دجانان وخت هم په پوره کېدو وۀ دملګرودفتواوخطونوپه راټولولويې شروع وکړه

زرغونې اګو هم فته ورته ډکه کړې وه او یو څۀ یې بادام اسمٰعیل ته
اخیستي وۀ جانان ته یې ورکړو دجانان تګ دکمال اکا په کورنۍ
ډېر سخت وۀ ځکه چې عیدته ډېري لیږ ورځې پاتې وې خلك له ډېره لیري
لیري ځایه عیدته کورته راځي مګرسخته په دغه وه چې جانان عیدته له
کوره تلوڅو ځله جانبختې ورته وویل! له عیده بعدبه تللی وې جانان
وویل موري! ډېري روپۍ مې پرې ورکړې بیامې پاسپورت
اوویزاخرابېږي تراختر ۳ ورځې دمخه جانان ولاړ ، زرغونې
اګو داختربنې ښکلي جامې دژنور لپاره جوړې کړې وې داختر په ورځ
دکلي له مراسمو وروسته زرغونې سره دژنور له جامو دژنور کورته ولاړه
ورځ یې ټوله تېره کړه مګرشپې ته واپس راغله زرغونه اګو اوس ډېره
خوشحاله وه مخکې به یې داسمٰعیل خبرې په سوچ کې راتلې اوس به
زرغونې اګو په خولۀ ویل په ډېرجګ اوازستالپاره به خدمتګاره وي .تۀ
به له وړو وړو ماشومانو سره ناسته یې اوس یې دزړۀ تسل شوی وۀ چې
دزوی خبرخودي رښتیا کېږي جانان ډېرچټك رسېدلی وۀ دعیدشپه یې
دوبۍ ته رسولې وۀ اسمٰعیل ډېر ورته خوشحاله وۀ نوم په نوم یې
دکلیوالو پوښتنه ځیني کوله . دسهارچای ته خپل دمورنخښه چې بادام
یې ورته رالېږلي وۀ راواخیستل دکوټې مشرمحمدآمین مخته یې
کېښودل محمدآمین ټولو ته خپل خپل تقسیم ورکړ اسمٰعیل
ډېرخوشحاله وۀ اکثره وخت به یې دمورفته غږوله ، سپین سرې کوچۍ
دزرغونې اګو کورته د مبارکي لپاره راغلې وه ورته ویل یې! بخت دې
زورور دی چې دشاه محمودلور دې وکړه زرغونې اګوورته وویل! دادی
ستاپه خولۀ مې وکړه خدای دې راته نېك صالح کړي زرغونې اګو له
سپین سرې کوچۍ سره ډېره جوړه شوه او ساعت به یې ورسره تېراوۀ

زرغوني اګویوه ورځ ورته وویل: زما د پلار ګنځ هیڅ څوك نشته تاته زه دخوري لاس درکوم کوچئ هم دخوري لاس ورکړاوس به اکثره وخت کوچئ راتله ، په رښتیاچي د دوو سکه خوندو په شان سره خوږي وې دکوچئ به اکثره وخت له زرغوني اګوسره شپې وې له همد غه قیصې یې اسمٰعیل هم خبر کړی وهٔ اسمٰعیل هم ډیرخوشحاله وهٔ چي د موربه مي فکرورسره بدل وي ، اکثره وخت بهٔ یې کوچئ ته هم نخښه رالیږله اوس دزرغوني اګواود ژنورځانګړي رازونه دکوچئ په واسطه ترسره کېدل زرغوني اګو کوچئ دخورکئ په نامهٔ بلله ځکه ټول کلي دزرغوني اګوپه نامه کوچئ دخورکئ په نوم بللـه ۱۵ میاشتي زرغـوني اګولـه دوستانوسره ښهٔ تنګ راتګ پالهٔ دزوی اسمٰعیل احوال یې هم راتلو ددوی احوال به هم ورتلو یوه ورځ چي کمال اکاهغه کوچني بازارته دسودالپاره تللی وهٔ په بازارکي دچای خوړلولپاره هوټل ته ننوت هوټلي وویل ښه ده چي راغلې زیری به هم پرې کړې دجانان او اسمٰعیل فته راغلې ده کمال اکا وویل چاراوړې؟ هوټلي وویل: مسافروهٔ نه مي پېژاندهٔ فته یې راکړه وې ویل چي فته یې تاته سپارلې کمال اکاپه فته ډیرخوشحاله شواودهوټلي زیری یې هم ورکړ له سوداخیستلووروسته دګورپه طرف روان شونیغ دزرغوني اګوکورته ورغی فته راغلې خدای خبر چي چاراوړې ، دبازارهوټلي ته یې ورکړې وه اول یې ته وغږوه بیابه یې صدوته ورکړې چي موږیې وغږوهٔ اوفته یې ټیپ ته ورواچوله زوی یې ډیره دخوشحالي فته ډکه کړې وه زرغونه اګوچي زیاته پرې خوشحاله وه هغه داسمٰعیل راتګ وهٔ چي په فته کي یې ویلي وهٔ ، اکثره وخت چي به زرغونه اګود کورله کاروخلاصه شوه دباندي په دروازه کي به ناسته وه دکليوالوښسره به یې خبري شریکولي دزوی فته مي راغلې

ډېره د خوشحالي فنه ده ويل يې چې زۀ او جانان په دغه يوه مياشت کې درځو کـه خيـر اوژونـدوۀ .دخسرخېلوسره مـې دوادۀ خبروکړه چې دوادۀ تيــاري ونيــسي ،ځکــه زۀ پــه ۲ مياشــتي رخــصتي درځــم دوادۀ دروپوبندوبس مي کړی يوځوروپئ مي په عرب پاتـه دي چې رايـي کړي پـه يـوه مياشـت کـي درځـم کلـه ناکلـه بـه زرغونـه اگـو دکلـي پـه گودرد پيغلو انجونو سره ناسته وه گورئ کله چې مي دزوی وادۀ وي چې يوه انجلۍ هم پاته نشي زۀ يوزوی لرم ډېره غريبي . نېستي اوبېکسي مي تېره کړه خدای تعالیٰ دي نـه لمسی راکړي د کلي انجونوبه آمين ويـل . دزوی اسمٰعيل دراتـگ اودوادۀ خبـره بـه يـي لـه هرچاسـره تـوده ساتلې وه دزوی دخسر خېلوکوريې په نيږدې کلي کې وۀ پـه هفتـه کـې بـه پنځـۀ ياځلورځلـه ورتلـه گـورئ! دزوی رخصتي مـي کمـه ده چـي ځرنگـه راشي دستي به وادۀ راکوئ خسرخېل يي هم دوادۀ په ورکولو کې موافق وۀ مورتياريوستازوی دي خدای پخيرراولي زرغونې اگوديوې مياشتي حساب پخپل اطاق کي پړی ځوړند کړی وۀ دهري ورځي پـه تېريدوبـه يي يـوه غوټـه ورواچولـه لـه غـوټي وروسـته بـه يـي هـره ورځ مخکـي غـوټي ځوځله گنلې دزوی راتگ يې دخوشحالی نه خوب اوراحت ورك کړی وۀ لـه هرشـي سـره بـه غږيـده هـره ورځ چـي بـه يـي چرگانوتـه دانـه اچولـه سورچرگ چي ټولوکي غټ اوظالم وۀ ددانې دکاسې منځ تـه بـه جگ شـو زرغونه اگوبه ډېره ورته خرپيده که مي خدای زوی راوست پـه هغـه ورځ به دي حلالوم بيابه يـي ليږلـه ځان سره وخندل سپين چرگـه وېرېږې تابـه دزوی زېربانۍ ته ورکوم . دخدای کارونه وۀ دکمال اکازوی جانان دشپې ۱۲:۰۰ بجې وې کورته راغی کمال اکالـه پوښـتني وروسـته ورتـه وويـل زويـه! اسمٰعيل هـم راغـی؟ دجانـان سـترگي لـه اوښـکوډکي شـوې کمـال

اکاغږپرې وکړ ولې زویه! خیرت خوبه وي؟ جانان په ژړغوني غږوویل!
پلاره اسمعیل په یوه ترافیکي حادثه کي په دوبۍ کي شهید
شونوردهغهٔ انتظارمکوئ ، کمال اکایوسوړآسوېلی له خولې ووت اوسر
په زنګون شوخدایه! زرغونه څومره ورته خوشحاله وه ببرته یې
سراپورته کړزویه سهار زرغونه راځي کوم خبرچي اسمعیل په فته کي
ویلی وهٔ چي په عرب مي یو څهٔ روپۍ پاته دي چي رایې کړي درځم اوس
عرب نوروخت واخیست یوه میاشت بعدبه راشي جانان وویل! تیارهٔ
جوړه کړئ بستره مي راوړئ.(۱۰۰۰۰) درهمه معاوزه په عربوکي کوم
اجنبي سړی چي په ترافیکي حادثه کي مړشي قیمت (۱۰۰۰۰) درهمه
ده اونوري روپۍ مې هم راوړې . سهاروختي په زرغونې اګود کلي
ماشومانودجانان زېرى وکړچي راغلی ده زرغونه اګوډېره وارخطاشوه
خدایه خیرپېښ کړې جانان اواسمعیل خوملګري وهٔ ژربې دروازه قلف
کړه دکمال اکا کورته ورغله دسرای په منځ کي یې ژغ کړپه کوم اطاق
کي یاستئ دزرغونې اګو په ژغ کمال اکاوویل! زهٔ خووځم نشم ورته
کتلای کمال اکاوویل! راځه زرغونې دلته دي دجانان سره یې پوښتنه
وکړه ورته وې ویل! اسمعیل څهٔ شوه ولي نه راغی؟ جانان له زرغونې
اګوخخه په یوه ډډه ناست وهٔ عرب روپۍ نه وې ورکړې ویل یې چي یوه
میاشت نورهم پاته شه بستره یې ماته راکړه ویل یې چي تهٔ دلاري بلدیې
زرغونې اګویوسوړآسویلی وویست دعرب دي زوی مړشي چي
دمزدوري روپۍ نه ورکوي زهٔ ترهغهٔ وخته بستره بنده ساتم ترڅوچي
اسمعیل راشي جانان وویل! بستره درنه ده زهٔ به یې ماسپښین درولېږم
زرغونې اګووویل! ماسپښین داسمعیل خسرخېلوته ورځم چي جانان
راغلی داسمعیل بستره یې هم راوړې اسمعیل به هم راشي بستره به یې

سبا راولېږي زرغونه اګوسیخه داسمعیل دخسرخېلو کورته ولاړه دجانان بیان یې هم ورته وکړ سهار جانان دلاسي کراچۍ په واسطه خپل کشرورور صدوپه لاس بستره ورولېږله دکوټې په یوه کونج کې یې سمبال کړه . داسمٰعیل دمړینې خبره ورو ورو په کلي خپره شوه کمال اکااوجانان فیصله وکړه چې زرغونه اګود کوم ماشوم یادچاله خولې یوناڅاپه خبره نشي دجمعې مبارکې په ورځ یې خبروم جانانه! دخیرات بندوبس هم وکړه دپنځ شنبې په ورځ سهاروختي زه . معلم صاحب . حمیدالله . ملاصاحب او۳ نفره نورکلیوال سپین ږیري کمال اکاکورته وروغوښتلو داسمعیل قیصه یې ټوله وکړه له سترګو یې اوښکې تللې ناستوټولوژړل شاوخوا کلیوالودسبالپاره پرچې ولېږلې داسمٰعیل دمړینې خبرموورکړ فیصله مو وکړه چې ماسپښین زرغونه اګوخبروو ماسپښین دلمانځه وروسته جانبختنه اګو اودکلي یوڅونوري سپین سري ښځې دزرغونې اګوکورته ورولېږلې کمال اکاپه کلیوالوږغ کړځۍ چې څوهرچاڅان شا ،شاته کاوه هیڅ چاجرئت نشوای کولای زه ، ملاصاحب اویوڅونفره نورکلیوال دزرغونې اګوپه دروازه ورننوتلوزموږپه لیدوحیرانه شوه لاس اوپښو یې کارپرېښودهیڅ یې نه وویل ، ملاصاحب په غږیدا شروع وکړه زرغونې اګوامرد خدای ده اسمٰعیل شهیدشوصبر وکړه په شاولاړه یوغږیې ترخوله ووت اوبېهوشې پرې راغله هرڅومره اوبه چې موپه مخ ورواچولې ، ملاصاحب دم کړه مګرراپه هوش نشوه موږدباندې راووتلو جانان سره له قصابه چې لوی غویی یې راروان کړی وه دزرغونې اګوپه دروازه کې ځای بندکړ ، یوساعت وروسته فیصله وشوه چې دولسوالې ډاکترته یې بوزو دیو کلیوال تراکتورراغی اوزرغونه اګویې دبېهوشې په حالت کې

ورپورته کړه کمال اکا په جانان ژغ کړ غویې حلال او سباته یې تیار کړئ اوړۀ هم کورو ته ولېږئ چې سباته ډوډۍ پخه کړي ماته یې لاس وښوراوۀ چې راځه تراکتورته وروختلم د ولسوالي ډاکترته مووروړه ډاکترډېر کوشش وکړخو دشپې تر ۰۰: ۴ بجو په هوش نه راغله له هغه وروسته چې راپه هوش شوه ذهني توازن یې خراب وۀ خبري یې ټولي غیري ارادي کولې له ځمکي او اسمانو غږېدله ډاکترو ویل بویي زئ دماغ یې سخت ټکان خوړلی گمان نکوم چې جوړه شي بس لېوني شوه دلمرپه ځریکه دولسوالي څخه رارهي شوۀ جانان او کلیوالو دخیرات او دعاښۀ بندوبس کړی وۀ اکثره خلک داسمعیل دمړینې له خبرتیاډېروختي راغلي وۀ خسرخېل یې هم راغلي وۀ چې کلي ته راورسېدلو زرغونه اگوچي ځرنگه له تراکتوره کښته شوه شاه محمود داسمعیل په خسریې نظرشوژړیې ترلاس ونیوراځه کورته لوردي لکه چې ډېره دربانديي گرانه ده پرون مي راوادۀ کړه اوس پسي راغلی یې اسمعیل هم راغلی دی . خلک مي ټول داسمعیل وادۀ ته راغوښتي وۀ دننې ډېري ښځي وې زرغونې اگوژغ کړغورځئ! غورځئ! داسمعیل وادۀ مي راوړی پخپله یې هم په سرای کي دکمیس لستوني غورځول ټولوخلکوژړل اسمان نری وریځ نیولې وه اونری نری باران اورېدۀ تابه ویل چې اسمان دزرغونې اگوپه حال ژاړي چیغو ،بیغو جوړه وه کمال اکاله زرغونې اگوسره ډېري هڅي اومنډي وکړې ډاکترانو او ملایانوته یې وروستله هیڅ کارنه کېدۀ (۱۵) ورځي بعد ما ،کمال اکا او جانان زرغونه اگو کابل ته بوتله دعلي اباد په روغتون کي موبستر کړه (۱۰) ورځي بعد دروغتون سرطبیب ډاکترنادراحمد (اکسیر) ځواب راکړ دماغ یې ډېره شدیده ضربه خوړلې یویي سئ نه جوړېږي صرف دخوب گولۍ

يې ورته راکړې دزرغونې اګوپه خولۀ کې صرف داسمٰعيل دوادۀ خبره وه دعلي ابادله روغتون نه راووتلم لاس مې يوټيکسي ته ورکړهغۀ سره په غرېداوم چې زرغونې اګودسرك مينځ ته منډه واخيسته ناڅاپه يوشهري بس ووهله واپس موروغتون ته يوړه ډاکتر په بيړه راغی زرغونې اګو صرف (۳) واري خولۀ خلاصه کړه اوروح يې ولاړه

(انالله وانااليه راجعون)

دکفن . غسل اوتابت بندوبس موو کړترکوره مودکوټه سنګي له آډې ځخه يو پلانکوچ په کرايه راوست دمينځ سيټونه موخلاص کړواودکورپه لوري مو حرکت راوکړد مازديګر ۰۰:۴بجې وې چې زرغونه اګوموکلي ته راورسوله د کلي لوی او واړه دزرغونې اګوجنازې ته راغلودکلي ټولي ښځي په دروازوکي حيراني ولاړي وې جانبختـه اګوهم راغله کورته يي راوړئ دغريبي دروازه خوبنده شوه دکلي کورښځي يي ويني ، جنازه مودکمال اکاکورته يوړه ډلي ډلي ښځي دليدلولپاره ورتلې کلی کورټول په ژړاوه سبالپاره يي خلك راوغوښتل په سبا ۱۰:۰۰ بجې يي جنازه وشوه اوپه ۱۱:۰۰ بجې موخاورته وسپارله کمال اکاژغ کړزرغونه ښه ښځه وه له حقه يي خلاصه کړئ دخيرات بندوبس مۆهم کړی ځوك چي ولاړنشی ټولوشاهدي ورکړه په رښتياچي زرغونه اګوښه ښځه وه له حقه موخلاصه کړې الله (ج) دې جنت الفردوس په نصيب کړي . دجمعې دورځي خيرات تېرشو (۱۰) ورځي بعدشاه محمودخپله لورداسمٰعيل او زرغونې اګوله مړيني ځخه خبره کړه لوريې ډېرپه جګ آوازژړل خدايه' نورژوندنه غواړم سترګي يي له ډېري ژړاځخه تکي سرې شوي وې. دزرغونې اګوخورکئ کوچۍ دومره ژړلي وۀ چي ژغ يې نه يورته کېدۀ داسمٰعيل ښځه يي په غېږکي نيولې وه له پاسه

داوښکوباران اوربدۀ ، (۱۵) ورځي بعد دزرغوني اګوخورکۍ هم راغله کمال اکادزرغوني اګو ټول سامانونه خپل کورته راوړو دزرغوني زړې جامې يې کوچۍ ته ورکړې داسمٰعيل بستره لاهم هغسي ايښې وه چي په هغه کې دخلکو نخښې وې اوجانان ته معلومې وې دروازه او ورونه يې ټول قلف کړل کمال اکا اودهغۀ کشرزوی صدوخوخوچرګان ترپښونيولي وۀ چي له سرونوځخه ځوړند وۀ کورته يوړو.

(۴) مياشتې بعد چي دجانان رخصتې هم په ختمېدو وه کمال اکادشاه محمود سره دوادۀ خبره خلاصه کړه باقي (۱۹۰۰۰۰) روپۍ چي پاته وې هم داسمٰعيل له روپو ځخه ورکړې کمال اکادجمعې مبارکې په ورځ خپلو کليوالوته دوادۀ ډوډۍ ورکړه په يو موټرکې دشاه محمود کورته ورغلوچي زۀ هم پکښې وم دوه نفره ښځې اوپنځه نفره سړي پکښې سپارۀ وۀ ماسپښين موناوي په دغه موټر کې راوړه دره ښځې دشاه محمودله کوره په ناوي پسې راغلې ناوي مو اول د کلي قبرستان ته يوړه چي زرغونه اګوهم پکښې دفن وه ناوې ډېرپه جګ آواز ژړل اوپه ژړاکې يې دغه نارې پرې وکړې:

کور ته به درشم ته به نه يې
چيغې به وکړم ستاپه بندوبندو ورونو

په ګورستان مې سلام وايه
چي خاوري نکړې زرغونې صدف غاښونه

ماد آخرت تمه لرله
تارانه واخيستل په دې دنيالاسونه

تۀ اسمٰعيل سره خو لاړې
عزرائيل راشه چي ماهم درخوندې کړينه

غم که له غمه شرمېدلای
په مابه نه راتلوجوړه جوړه غمونه

که اسمٰعيل سره يوځای شوې
زماپرې وايه ډېر په چيغوسلامونه

مرګيه ولې دي تلوارکړ
يوېې خواني وه بل يې ډېروۀ ارمانونه

مرګي خوراولې مامره کړې
چي امانته اسمٰعيل ته خو ورشمه

له هغۀ ځایه دزرغونې اګوقلف دروازې ته ودربدلوټولو کلیوالوژړل تابه ویل چې بله جنازه یې راوړه چوپه چوپتیاجوړه وه له هغه وروسته موناوي دکمال اکاپه کور کي کشته کړه دریمه ورځ دجمعې له ماښام وروسته کمال اکاڅۀ اودکلي ملاصاحب کورته بوتلو داسمٰعیل ناوي کمال اکاخپل کشرزوی صدوته په نکاح کړه یوځل بیادغم ماتم جوړشوتابه ویل چې دکربلا ورځ ده.

زماپه وس کي دومره پوره وۀ چي ورسره ومي کړو داسمعیل رالیږلی قلم مي راواخیست ګرانووطنوالوته مې ددوی غم، بېکسي، جدایي، خطرناکې لارې د افغانانوارزښت اوداسې نورچې په قیصه کې ځای شوي وۀ دقلم په ژبه ولیکل او ګرانولوستونکوته ورسوم.

ومن الله توفیق

لیکوال وکیل حاجي بادشاه خان (( شرنوال ))

# دليکوال لنډه پېژندنه



وکيل حاجي بادشاه خان شرنوال دمرحوم قومي مشر حاجي نصرالله خان زوی دپکتيکاولايت په مرکزشرنه دکشيــــوالوپه کلي کي په ۱۳۴۲هــ ش کال کي زېږېدلی دی تراووم ټولګي پوري يې زده کړې دعلي ترسره کړې له هغه وروسته دروسانوپه مقابله کی په وسلوال عملي جهادلاس پوري کړ ، روسان چي کله له افغانستان څخه ووتل خپل ځان يې په تجارت بوخت کړاوترڅنګ يې دپکتيکاتعليم اوتربيې لپاره ډېري هلي ځلي وکړې اوخپلې شخصي مطالعې يې هم کولې اوپه ډېرکم عمردمشرانوپه چوکاټ کی ور داخل شوچي تراوسه پوري يوتکړه قومي مشردی ، په کال ۱۳۸۱هــ ش کي په ببرنی لويه جرګه کي دپکتيکادمرکزوکيل وو له هغه وروسته دپکتيکا تعليم او تربيه ، دنوموړي ولايت تجارت ، تمدن اوانکشاف ته يې ډېرکارونه وکړل چي دپکتيکاولايت اوسنی بازارهم دنوموړي په برکت جوړشو دليکوال يوکتاب چي دانتباهي ټوکوپه نامه دی هم له چاپ څخه وتلی اوځولنډي کيسې يې په اوونيزوکي چاپ شوې لکه ويرجن اختر ، زماواده ، ظالم پلار ، مهاجر ، کلاشنکوف اوداسي نور... دهسکي شملې مجله يې په اولين ځل د پکتيکاڅخه نشرته وسپارله دوه نورکتابونه (په تول تللې خبري او جرګه ) به انشاءالله ډېرژر چاپ ته وسپارل شي.